که غواړئ د سولې او پخلاینې دړه
بېرته اوسي، اوربند ټینګ کړئ

# اوربند

شماره سیزدهم، ۳۰/ قوس/ ۱۳۹۷

ORBAND
CEASEFIRE BIWEEKLY
13th Issue, December 2018

## ننګوني پوښتني

«د ۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ کلونو او د ۲۰۱٦ او ۲۰۱۷ کلونو په ترڅ کې د افغانستان د فقر د کرښې کچه له ۳۸. ۳٪ سلنې څخه ۵ .۵۴ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی».



### پدې ګڼه کې...


- تازه خبر
- سیکولاریزم
- د فاسدېدو خبرتیا
- سوله مو ژغورلی شي
- د افغان ستري لوبې دویم پړاو
- د جنګي جنایتکارانو اتهام‌نامه
- افغانستان کې: څوک د چا میراث دی؟!
- حق خویش را بخواهید! (پشتون‌ها بخوانند!)
- پښتون ژرغوني غورځنګ د ایین په لومو کې
- غني افغانستان، د لېوني خوب و، رښتیا نشو...
- هغه څه چې ما هند ته د درملنې لپاره له سفر څخه زده کړل


## ولس، د بې لومړیتوبه چارواکیو په لومو کې

د ننګرهار والي صیب که هېڅ نشي کړای، یو ورځ دې ماښام مهال خپل ولایت ته څېرمه فوټبال سټېډیوم ته سر ور شکاره کړي، د ټاپې ترلاسنې لپاره دې د انساني سېلاب ستونزې او زجر له نږدې وګوري، له یخنۍ دې د ښځو او ماشومانو کړېدلې ژامې او د خپلو پولیسو چلند هم وګوري، ګوندې پر زړه یې د رحم اوبه تویې شي او د ټاپې د شرط د ختمولو تر څنګ ددغې ستونزې د هواري لپاره هم جدي ګامونه واخلي او ولس له دغه ناورینه وژغوري...!



چاپخی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

ioglobal
Internet Services Through Fiber Optic
Wireless Communication Solutions
Wired and Wireless Backbone Solutions
Data Center Engineering and Design
IT Infrastructure Solutions
Security Solutions
Storage Solutions
High-Availability Solutions
Software Solutions and Software Systems
Web-based Information Solutions
ISO 9001 CERTIFIED
House No. 1151, Mayors Street on Sherpur Main Road, Kabul | Afghanistan
+93 (0) 20 22 131 21 - 4 | info@io--global.com | www.io--global.com | io-global

ORZALA NATURALS اورځلا طبیعی
افغانی، طبیعی، ګیاهی



Between Street 1 & 2, Taimani Main Road, Kabul, Afghanistan
Kart-e-4, Next to Allama Higher Education Institute | 0799143113
تایمني سابقه، د لومړي او دویم سړک تر منځ، کابل، افغانستان
کارته چهار، د حوزې سړک، د علامه لوړو زده کړو موسسې تر څنګ




ایم تي این مخابراتي شرکت ته مخامخ کوڅه، شهر نو- کابل/ 0202214172

# فرانسوي (FMIC) روغتون، که لوټتون؟!!

**عبدالمعيد هاشمي**

پوره پينځلس کاله مې نارينه اولاد نه درلود، مشران اولادونه مې پينځه سره لونې وې، ددندې پيل مې هم له معلمۍ وو!
د معلم په اړه خو لا له پخوا هغه د ژوندي نيول شوي «ګيدړ» کيسه مشهوره ده چې د کلي خلکو يې وژنه غوښته، خو د کلي کوم د پاخه عمر تجربه کار سپينږيري ورته کړه چې؛ «د معلم» خولۍ ور پر سر کړئ! منې که ټول عمر د پنځو روپيو خاوند شي.
د ښوونکي درانه مقام ته په دوه لاسي سلام!
هغه متل دی چې «يوه ها وه هغه هم سخا وه».
ما نو پينځلس کاله د پلار، مور، مېرمنې او په دا وروستيو کې د خپلې ناروغۍ د درملنې نينې چيچلې وې هغه د چا خبره تر دوه غوږونو په قرضونو کې ډوب وم. رښتيا يوه دې مه شه له بلې بتره!
ورم کال مې په مېرمنې د زړه يوه سپکه حمله راغله نادارۍ او بېکسۍ مې سر تر «کيشا» روغتونه ورساوه!
سپين سهار او د مشرانو جرګې رييس صيب، ډاکتر صيب محب زغم او د کيشا روغتون مالک ته واسطه شول، کوران يې کې او «ګوشت خوګ» دې وي که به يې «توت» ګټه را رسولې وي!
کيشاخېلو رانه په يوولس ورځو کې شپږ لکه او شپيته زره افغانۍ واخستې چې يواځې د يوې شپې د خونې کرايه يې لس زره افغانۍ وه!
له خوشامنده مې ددغه روغتون يوه هندي ډاکتر ته زما د اداري د مشر په لاسليک يو ستاينليک هم ورکړ!
بله ورځ هندي ډاکتر اسرار دنده پرېښوده ولاکه يې بله ويلې وې راته يې کړل «سب افغانی بی ايمان لوگ ہے» مال لالا «کيا آسمان گرتها ہے؟».
غريب را غبرګه کړه چې د روغتون مالک وايي، «لګښتونه ډېر دي ته ولې ناروغانو ته ګڼ معاينات نه ليکې؟».
هندو غريب خپل ضمير دندې ته پرېښود!
د همدغه روغتون د معايناتو يوه پرچه يې ماته ليکلې وه په خدای باور وکړئ چې هغې تانتولکې لښېرينې کېلکولېټر کې شپاړس زره افغانۍ کړې! د عبدالوکيل ودان دې کور ودان وي هغه ټول معاينات يې راته په ديارلس سوه افغانيو په «فايز روغتون» کې وکړل.
کيسه بله خوا لاړه، خو څه وکړو «د شهرت ننګيال يو کالم و، څه خبرې مې په زړه وې، خو سلګۍ شي».
زه يې دعا ګوی يم د دانش لالا له ځينو لوڅو تارونو يې پوی کړی يم چې لاس به نه ور وړې! دانش لالا نو بيا د يارانو په خدمت کې د منډو ترړو مېړنی دی!
د کابل او جلال اباد له ډاکترانو چې ما يوسه شوم بيا مې نو لکه «سوله» د ګران زوی «حماس الفت» روغتيا هم د فېسبوک د ملګريو په دعا غوښته!
ګلددا هم په فرانسوي روغتون کې د کوم ډاکتر د مرستې ټېر را وواهه او د ژورناليستانو د مصئونيت کمېټې مشر «صديق الله تو حيدي» صيب خو ددغه روغتون په افغان مشر «ښاغلي عبدالله فهيم» سپارښتليک هم راکړ ايله درې ورځو کې ډاکتر عبدالله فهيم -چې پخوا د عامې روغتيا وزارت ويانده وو- په



لاس راغی، هغه نو اصلي قصابانو ته ور حواله کړم نه لحاظ و، نه خاطر، يواځې سيکې چلېد لې، زوی مې د سينې ناروغي درلوده، دوه ځايه يې وينه ترې واخيسته پرچه يې راکړه؛ چې د اغا خان روغتون ته ليږلې ويني نتيجه نهه ورځې وروسته او فرانسې ته ليږل شوې دوه اونۍ وروسته راځي!
زوی مې ساه و تيګا و، دوه اونۍ وروسته نتيجه راغله هماغه د عابدي لورکی تشخيص مې و، چې «اغا ورور مې الرجي لري» نه د الرجي نوعيت او نه هم د حساسيت لامل و!
هغه له يارانو دوستانو پور کړې يې رانه ولوټلې اوس نو يواځې د خدای په ايله خپل زوی ته دا يو کال «زيتوفين او وينټولين» شربتونه ورکوم.
ملامت زه په خپله يم څکه همدغه فرانسوي روغتون څلور کاله وړاندې کله چې مې مور فالج ووهله له درې لکه افغانيو خلاص کړی وم.
زر کلن بابا خو تورخم هم پُلِ صراط کړ!
نور نو خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو.
«مشتري هوشيار باش!»

# دانش خپرندويې ټولنې نوي چاپ کړي کتابونه










**د تر لاسه کولو پتې**
**سالنګ واټ، انحصارات، د پخوانی ملي سينما څنګ ته، دانش کتابپلورځی- کابل**
**ډيجيټل:** 0783835153 **مطبعه:** 0700449298
**برېښليکونه:** spinsahaar@gmail.com | danishdigital2020@gmail.com
ميوند جاده، پخته فروشی کوڅه، خليل مارکيت، دانش کتابخانه
احمد شاه بابا مېنه (ارزان قيمت) شهيد داود خان څلور لارې، داود خان او پي ته

مخامخ، بولان مارکيټ، کتابستان
ميرويس ميدان (کوټه سنګي)، مينه يار مارکيټ، استقلال کتابخانه- کابل
کندهار: کرور کتابخانه او صداقت کتابخانه
ننګرهار: ختيځ خپرندويه ټولنه او مومند خپرندويه ټولنه- جلال آباد
پکتيا: روحاني خپرندويه ټولنه او ما شاء الله کتابخانه- ګردېز
خوست: ژوندون کتابخانه او رڼا کتابخانه
مزار شريف: کتابفروشی حاجی عبدالقيوم

# پېښور او کابل دواړه دوه ياران دي...

څو ورځې وړاندې د لرې پښتونخوا درنو ليکوالو او شاعرانو د ولسمشر په لارښوونه، د استاد لال پاچا ازمون په نوښت، د کابل پوهنتون او علومو اکاډمۍ له خوا د نابغه خوشال په نامه، علمي- څېړنيز سيمينار کې د ګډون لپاره کابل ته تشريف راوړی و، ښاغليو مېلمنو په دغه سيمينار کې پر ګډون سربېره د لنډې شېبې لپاره دانش خپرندويې ټولنې ته هم سر را ښکاره کړ.
په دغو ليکوالو او شاعرانو کې رحمت شاه سايل، درويش دراني، ډاکټر فضل الرحيم مروت، اباسين يوسفزي، نصرالله جان وزير، خير محمد عارف، حنيف خليل، رازق فهيم، عارف تبسم، خدای نور ناصر، نورالبصر امن، ظفر بخشالي، محب وزير، يار محمد مغموم، راشد خټک، ميا وکيل شاه فقيرخېل، سمندر يوسفزی، شمس بونيری او نورو ښاغليو ګډون لاره.
دانش خپرندويه ټولنه وياړي، چې د پښتو ادب ددغو سرلارو د لنډې مېلمستيا وياړ يې درلود. پدې ناسته کې تر ټولو ړومبی د اُرواښاد عمر دراز مروت اروا ته د دعا لاسونه لپه شول او ورپسې يادو مېلمنو ته ښه راغلاست وويل شو.
د لرې پښتونخوا ليکوال و شاعران دانش خپرندويې ټولنې ته په راتګ نه يواځې له نويو خپرو شويو پښتو کتابونو خبر شول، بلکې پر دغو کتابونو يې لنډ بحث هم وکړ. سربېره پر دې يې دا وښوده چې د لر و بر ليکوال و شاعران پر يو تار سره تړلي نه بېلېدونکي دي.
که له يوې خوا د پښتو د معاصرې شاعرۍ بې تاجه بادشاه رحمت شاه سايل په خپل يوه بيت کې پېښور او کابل دواړه دوه ياران بللي، نو له بلې خوا دغو ښاغليو برې پښتونخوا ته په راتګ او له پښتنو ليکوالو او شاعرانو سره د مينې او صميميت په اړيکيو لرلو په عملي توګه هم دا په اثبات رسولې چې:

پېښور او کابل دواړه دوه ياران دي
لکه دوه سترګې په يو مخ د جانان دي







دانش خپرندويه ټولنه په دې هيله ده چې د لر و برو پښتنو ترمنځ د يو والي او مينې تار همداسې غځېدلی او ټينګ پاتې شي.
د خپلو ګرانو ملګريو راتګ په نيک فال نيسي او بيا بيا راتګ او مېلمستيا ته يې هرکلی وايي...



# ولسمشر دې نه لولي..!

**ډاکتر نصرت راسا**

د کابل ښار هوا په دې ورځو کې بې حده ککړه ده. د ايرويژول راپور کله کله دا هوا تر ټولو بد حالت (Hazardous) يا ډېر خطرناک حالت کې ښيي. د هوا ککړتيا د تنفسي ناروغيو، د زړه او رګونو ناروغيو او حتی تر وخت مخکې مړينې سبب کېږي. ماشومانو او تنفسي ناروغانو ته يې زيان لا ډېر زيات دی. په اوږدمهال کې د سرطان او د جنين د سقط (د ماشوم د زيان) سبب هم کېدای شي.

دا چې په دې ورځو کې خلک د ژمي لپاره هر ډول سونتوکي استعمالوي پرته له دې چې چاپېريال او خلکو ته يې په زيانونو فکر وکړي نو دا مهمه ده چې حکومت په جدي ډول مداخله وکړي او د هوا د ککړتيا د را کمولو لپاره عاجل اقدامات وکړي.

د لنډ مهال لپاره لاندې چارې پيشنهادېږي:

- د هوا ککړتيا په کابل کې خپل نهايي خراب حالت ته رسېدلې، نو ځکه بايد د عامې روغتيا وزارت لخوا د يوه اضطراري حالت (Public Health Emergency) په ډول چلند ورسره وشي او خاصه توجه ورته وشي. عامه روغتيا بايد په کابينه کې دا موضوع د يوه ستر صحي تهديد په حيث وړاندې کړي او د ټولو اړوندو سکتورونو نقش پکې ځانګړی کړي او همکاري يې وغواړي.
- کابينه بايد اړوندو ادارو، لکه د چاپېريال ساتنې اداره، ښاروالۍ، عامې روغتيا وزارت، ښار جوړونې وزارت او تجارت وزارت ته د عاجلو اقداماتو سپارښتنه وکړي چې په دې کې د ډبرو د سکارو مطلق بندول او په بدل کې يې خلکو ته د نسبتاً پاکو سونتوکو لپاره د سبسايډي ورکول شامل دي.
- ټول تجارتي مرکزونه، ستر تعميرونه او شخصي رهايشي تعميرونه بايد په عاجل ډول د هوا پاکوالي فلترونه نصب کړي او د ډبرو سکرو له سوَنه ډډه وکړي.
- حمامونو ته بايد سپارښتنه وشي چې خپل سيستمونه ګازي کړي او د ډبرو سکرو او لرګيو له سوځونې ډډه وکړي.
- په ښار کې دې د هغو موټرو په ګرځېدو بنديز ولګېږي چې ډېر لوګی توليدوي.
- خلکو ته د سوَن د نسبتاً مصئونو موادو د کارونې لپاره عامه پوهاوی پيل شي. همدا راز دوی ته د خطرناکې ککړتيا په وخت خبرتيا ورکړای شي چې له ضروري کارونو پرته حتی له کوره را ونه وځي. د کور دننه هوا د پاکوالي په پار بايد لازمې لارښوونې ورته وشي.
- په روغتونونو کې بايد د تنفسي او زړه د ناروغيو د درملنې امکانات د ژمي په مياشتو کې زيات شي .
- د اوږد مهال لپاره دې د چاپېريال ساتنې اداره، عامې روغتيا وزارت، ښاروالۍ، تجارت وزارت او اقتصاد وزارت په ګډه له صحي، چاپېريالي او اقتصادي تحليلونو وروسته لنډمهالي، منځ مهالي او اوږدمهالي ستراتيژيک هدفونه مشخص کړي او د پلي کولو لپاره دې اقدامات پيل کړي.
د څارنې لپاره يې بايد د کابينې په سطحه يوه رهبري کوونکې کمېټه تشکيل شي.

اوربند ستاسې تجارتي اعلانونه په وړ بيه خپروي او تر ډېرو ځايونو يې رسوي

بسم الله الرحمن الرحیم

اوربند

پینځلس ورځنی

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَــلَداً آمِناً

شمارهٔ سیزدههم، ۳۰/ قوس/ ۱۳۹۷

## سرلیکنه

### غني افغانستان، د لېوني خوب و، رښتیا نشو...!

غني افغانستان پـه رښـتېنولی، صداقـت او لـه وطـن و ولـس سره د زړه پـه مينـه رغېدلـی شي...

له بـده مرغـه د غنـي افغانسـتان پـه جوړوَنـګ کې نـه د رښـتینولی څـرک لګـي، نـه د مينـې او نـه د اخـلاص و وفـادارۍ...

غنـي افغانسـتان هلـه جوړېدای شي چې زموږ هېـواد يـو سـتر غنـي روغتـون ولـري، د ودونـو د سِـترو سـترو مجللـو سـالونونو پـر ځـای يـوهٔ رښـتيني سـوداګر دا جرئـت ونکـړ، چـې د هېـواد پـه سـطحه -ان د سيمې پـه سـطحه- يـو ښـه روغتـون جـوړ کـړي، چـې هـم بـه خورمـا وای، هـم ثـواب...

تـر دې ستر شرم بـه چېرې وي، چـې هـره ورځ مـو نـاروغ وطنـوال د پاکسـتان د سـفارت او کونسـلګريو تـر مـخ ډغـرې خـوري، بېهوښـه کېـږي، د پوليسـو ډنـډې او د کميشـنکارانو جزوَنـې کړوَنـې کـسي...

زمـوږ سرکار تـر غنـي افغانسـتانه وړانـدې تېـر شـوی، غنـي افغانسـتان پـه منځ کـې تـرې بـې سر و سـامانه پاتـې دی...

تـر دې دمـه زمـوږ سرکار پـدې ونـه توانېـدهٔ چـې جمهوريـت روغتـون د هېـواد پـه سـطحه يـو سـتر سرکاري روغتـون کـړي... تـر دې دمـه پـدې ونـه توانېـده چـې لـه بهـره افغـان تکـړه ډاکـتران هېـواد تـه د ځوانـو ډاکترانـو د روزنـې پـه پـار را جـذب کـړي...

غنـي سرکار پـدې کـې نـاکام شـو چـې ځـوان وړ، بـا اسـتعداده ډاکـتران لـه واسـطو پرتـه د خپـل اسـتعداد پـر مټ بهـر تـه واسـتوي، چـې بهـر تـه د درملنـې لپـاره د تلونکيـو هېوادوالـو پـر زخمونـو پخپـل هېـواد کـې پټـی کېـږدي...

د غنـي افغانسـتان کيسـه د کاغذونـو تـر ډېـران لانـدې پټـه ده، ټولـې کيسـې يـې نمايـشي او د کمپايـن تـر بريـده دي...

لـږ تـر لـږه ددې سرکار يـوه ژمنـه (پـه طبـي برخـه کـې هېـواد پـه پښـو درول) هـم پـوره نشـوه، دا هغـه ژمنـه وه، چـې مـوږ پکـې د غنـي افغانسـتان د خـوب رښـتيا کېـدن ليـده...

چې د وطن د ابــادۍ بلا دعوې دي پکې
وطن د هاغو کاغذونو په ډېران ویده دی

## نیولیک


سوله مو ژغورلی شي/ ۲
سیکولارېزم/ ۳
افغانستان کې: څوک د چا میراث دی؟!/ ۴
هغه څه چې ما هند ته د درملنې لپاره له سفر څخه زده کړل/ ۵
حق خویش را بخواهید!/ ٦
ولس، د بې لومړیتوبه چارواکیو په لومو کې/ ۸
ننګوونکې پوښتنې/ ۱۰
پښتون ژغورنې غورځنګ د ایین په لومو کې/ ۱۲
د فاسدېدو خبرتیا/ ۱۳
د افغان سترې لوبې دویم پړاو/ ۱۳
د جنګي جنایتکارانو اتهام نامه/ ۱۴
د ژوند وړې لارښوونې/ ۱۵
تازه خبر/ ١٦
په کاروبار کې د ګټې وټې رول/ ١٦

## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې پواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پیلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنیوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هیله ده
اوربند؛ ملي اړتیا ده
اوربند؛ ټیکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسیاینې لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنیوی دی
اوربنـد ټینـګ کـړئ، لـه اوربنـد سره کېنـئ، پـر اوربنـد راټـول شئ.



امتیاز
افغانستان
چلوونکي
افغانان
خپرندوی
دانش خپرندویه ټولنه



اړیکي
۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱ - ۰۷۰۰٦۳۹۳۸۳
برېښلیک
spinsahaar@gmail.com

بیه
۲۰ ؋



# سوله مو ژغورلی شي

مومند محمدي اخګر

**په دې ورځو کې دا اوازې ډېرې تودې شوې دي چې سوله راځي، جګړه به بس شي او د افغان غوځ شوی شاه رګ به چې په شر وینې ترې روانې دي، د سولې د طبیب په لاس به ورغول شي.**
**که له یوې خوا انسانان په احساساتو راغلي دي او د نظر د اختلافاتو له امله د تورې او ټوپک اوچتولو ته زمینه مساعده شوې ده، نو له بلې خوا د وخت په تېرېدو سره احساسات هم ساړه شوي دي، خلک د جګړې له اوږدېدلو ستړي او په پای کې د خبرو له لارې تفاهم ته د رسیدلو پرېکړه شوې ده...**

... لکه چې پوهېږو د نړۍ سترې جګړې له زیاتو زیانونو وروسته د سولې پر تړونونو پای ته رسیدلې دي؛ اروپایانو دوې سترې جګړې وکړې چې میلیونونه خلک پکې ووژل شول خو په پای کې دوی دې پایلې ته ورسیدل چې له جګړې او تاوتریخوالي پرته که له یو بل سره پر سولې تفاهم وکړي او حتی خپل ژور اختلافات هم د خبرو اترو له لارې حل کړي نو وبه کولی شي چې د نړۍ پرمخ تر ټولو بهتر ژوند ولري او نسلونه، نسلونه به یې له مشکلاتو او کړاوونو سره مخ نشي، د همدې پرېکړې پر اساس یې ډیپلوماټیک اخلاق رامنځته کړل او د مسایلو د حل لپاره یې سیاسي مذاکراتو ته وده ورکړه.

د اسلام مبین دین هم سولې ته د یوه ستر ارزښت په توګه ګوري او د قرآنکریم ډېر آیتونه په امن، سلام او سوله ټینګار کوي، د اسلام ستر پیغمبر د سولې یوه ستره کارنامه موږ ته پرېښې ده چې د حدیبیې سوله ورته وایي او په قرآن کریم کې د ښکاره بري خطاب ورته شوی دی.

له بله پلوه اسلام هېڅکله هم د مسلمانانو تر منځ جګړو او وژنو ته اجازه نه ورکوي او دې کار ته هیڅ ډول حیله او توجیه نشي پیدا کیدلی، څوک چې مسلمان ورور بې سببه ووژني الله تعالی د جهنم وعده ورسره کړې ده او لعنت یې پرې ویلې دي، لکه چې فرمایي:(وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا) ژباړه:«او څوک چې مومن له پوهې او ادراک سره، سره ووژني نو د هغه سزا دوزخ ده چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړی دی»[النساء:۹۳]. همدا ډول نبي صلی الله علیه وسلم هغو توکو او څیزونو ته چې مسلمانان ورونه خپل منځي جګړې ته هڅوي د جاهلیت عادتونه بللي دي، لکه چې یوه ورځ د اسلام یوه دښمن د انصارو د اوس او خزرج د جاهلیت زمانې جګړو ته د دوی تر منځ اشاره وکړه چې په ترخ کې یې د اوس او خزرج قبیلو انصارو دا خبرې وغځولې او خبره د تورو کښلو ته ورسیدله چې زموږ خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم پرې خبر شو نو په دې کار ډېر خپه شو او دا یې د جاهلیت د زمانې کار وبللو، په دې مانا چې د مسلمانانو تر منځ هیڅکله هم د جګړو او وژنو لپاره کومه توجیه نشته.

پاتې شوه زموږ جګړه، هغه جګړه چې هره ورځ یې زموږ بېوزله هېوادوال درنه بیه ورکوي، هغه ښامار چې زموږ له کلیو او ښارونو یې په زرګونه ښځې، ماشومان، سپینږیري او ځوانان له کومې تېر کړي او دا لړۍ لاپسې روانه ده، سره له دې چې زموږ دین، رواج، عرف او عادت دا روانه جګړه مردوده بولي خو بیا هم د جګړې د ډګر ځوانان دومره په شور او مستۍ راغلي دي چې د هیڅ منادي غږ نه اوري او په خرپ د یوه او بل ورمېږونه غوڅوي، دوی خپل ټول ارزښتونه هېر کړي دي او خولې یې د وږیو لېوانو په څېر تر وښکیو پورې د یو او بل په وینو لړلې دي!.

هغه څوک چې دا جګړه یې توده کړې ده اوس په ارامه په یوه لوړه غونډۍ ناست دی او په خوند د دې ګرمې لوبې ننداره کوي، هغه چې افغانان د اتڼ په څېر په کې مست شوي دي، ډولچي دوی دومره بې خوده کړي دي چې نور د ډول وهلو ته هم اړتیا نه لري، ځوانان بې دریغه لټ په لټ اوړي او د ظالمو تورو د شرنګا غږ اوریدل کیږي.

جګړه چې څومره اوږدیږي هماغومره د ښکېلو خواوو زړونه له نفرتونو ډکیږي او د رحم پر ځای وحشتونه ورته لارې کوي، زموږ په جګړه کې پردي له صحنې وتلي دي، څوک په ماڼیو کې په زرینو کرسیو ناست دي او څوک هم د دنګو دېوالونو تر شا له دې اوره په امن دي او زموږ سرونه دي چې د دوی د ارمانونو لپاره داو کیږي، موږ ورځ تر بلې زیانمن کیږو او له پښو لوېږو خو نور زموږ له نفاقه ګټه پورته کوي او دا جګړه یې د ځان لپاره د خپلې سودا خرڅولو یو ګټور بازار ګرځولی دی، فکر کوم اوس زموږ ډېری هېوادوال په دې حقیقت باندې پوهیدلي دي. وروسته له دې چې د تېرو څو لسیزو جګړو راهیسې زموږ هر کور په وینو د خپل لت پت ځوان بچي سر ته کیناست نو ورو، ورو یې څه نا څه سد سر ته راغی، د جګړې د بس کیدلو ارمان یې وکړ، دا ارمان په زړه کې ورو، ورو په یوه توپان بدل شو او اوس د تندرونو غونډې په زورورو چیغو واوښت.

د سولې دعاګانې د قبلېدو په درشل کې دي او د ارمان دا تنده خړوبېدونکې ښکاري، چې مثال یې د سولې لپاره څو مکررې غونډې او خبرې اترې دي، خو خبره بل څه ده؛ موږ د سولې ارمان وکړ خو په لاره چاره یې پوه نه شوو، موږ د هغو موږکانو کارنامه تکرار کړه چې د پنېر د ویشلو لپاره یې پیشو ټاکلې وه، موږ ته جګړه پردیو راوړه چې دوی لا هم ګټې ترې اوچتوي خو موږ بېرته له همدوی څخه غواړو چې سوله هم راته راوړي په داسې حال کې چې دوی هیڅکله هم له خپلو ګټو څخه نه شي تېریدلی. زما په اند که موږ غواړو چې دا مردوده جګړه پای ته ورسوو نو باید په خپل منځ کې سوله وکړو، زموږ ولس باید د جګړې د دواړو خواوو منځګړتوب وکړي او ځان له دې کرغېړن ګرداب څخه وباسي چې تر مړې پکې ډوب یو. په نړۍ کې پردیو هیڅچا ته هم نېکمرغي نه ده راوړې بلکه دا پخپله ولسونه دي چې خپل هېوادونه یې د ټیکاو او ابادۍ څخه برخمن کړي دي، خو ولسونه هم یوه روح ته اړتیا لري چې پکې پو کړل شي، راویښ شي او د دې ناورین مخه ونیسي.

که چېرې موږ په خپلو کې د یو بل وژنه ودروو او د هېواد د ابادۍ لپاره لاسونه سره یو کړو نو زموږ خپلې داخلي مغرضې کړۍ او پردي دښمنان به میدان پرېږدي او پښې به سپکې کړي.

# سیکولاریزم

اجرالدين اقبال

نن سبا په وګړیزو ناستو پاستو، خبرو اترو او کله نا کله په لیکنو کې د سکولاریزم اصطلاح کارېږي، د ځینو ښه ایسي او ځینې حساسیت ورسره لري او د ځینو چې له چا سره نه لګي؛ نو د سکولارېزم ټاپه پرې وهي.

دا چې سکولارېزم ښه دی یا بد اوس وینه پرې نه کوو؛ دلته یوازې پر منځپانګې او ذات یې ګرېږو؛ چې مانا یې څه ده، له کومه ځایه راولاړ شوی او څه کوي او موږ چې په یوې دودېزې دیني ټولنې کې اوسو، څه چلن ورسره ولرو څنګه ځانونه عیار او چمتو کړو چې دا مبارک حدیث «تر مؤمن خورا ځیرک نشته» پر ځان تطبیق کړو، چې د یو معاصر مسلمان په څېر ژوند تېر کړو او له اسلامه پوهېدنې مو د ستونز اواری لپاره وي؛ نه هغه پوهېدنې چې د مسلمانانو د سرکوزۍ لامل، د « يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ » مصداق او ګردې نړۍ ته یو سرخوږ وي. تمه ده لاندې چې د یوه اسلامي اندیال د شنني پښتو ژباړه لولئ د مسایلو په رڼا کولو کې لاسنیوی مو وکړي.

« سکولارېزم په لویدیځ کې نسبتاً له نویو اصطلاحاتو ځنې ده. له عمره یې نژدې دوه پېړۍ تېرېږي او لکه چې یو لړ تاریخپوهانو لیکلي، په لومړي ځل په فرانسه کې د «دولت» او «کلیسا» په شخړه کې وکارېده. د فرانسې دولت د کلیسا شتمني مصادره کړه او پردې چار د «سکولاریزیشن» نامه کېښول شوه. اوس چې ددې اصطلاح تاریخي کارونه دقیقه څېړو، دا کارونه په «سمبولیک» ډول د «سکولارېزم» او «سکولاریزیشن» ټوله منځپانګه توضیح کوي او ددې لپاره چې د «سکولاریزیشن» پر مفهوم څرګنده ویوهېږو؛ نو باید د پورته تاریخي پېښې د مضمون او منځپانګې په باب سوچ وکړو. معمولاً سکولارېزم یې له دولته د دین بېلتون مانا کړی او نن هم هغوی ته سکولار ویل کېږي چې له سیاسته د دین د بېلتون لېوال وي. په مقابل کې یې، د دوی مخالفان د دیانت او سیاست په ترښت او امتزاج ټینګار کوي او دا خبره کوي چې « دیانت مو عین سیاست او سیاست مو عین دیانت دی» او دا خبره د دیني اندنې یو رکن بولي او ګروهن دي.

اسلام د مسیحیت یا یهودیت په څېر له نورو ادیانو سره چې له سیاست او حکومت سره څه کار نه لري، توپیر لري؛ د اسلام دین یو سیاسي دین دی او سیاست د اسلام په ذات کې اخړل شوی او یو مسلمان نشي کیدای سیاسي نه وي او د سیاست په باب سوچ ونه کړي. وایي چې د اسلام پیغمبر(ص) سل په سلو کې یو سیاسي سړی و، د سیاست ډګر ته ورننووت، جګړه یې وکړه، مدینه یې جوړه کړه، امت یې رادبره کړ او خپلو لارویانو ته یې سیاسي سپارښتنې وکړې. نو مسلمان هم باید ورپسې ولاړ شي او لار یې خپله کړي. په دې پوهېدنې کې له سیاسته د دین بېلول یو نامطلوب او بد چار ګڼل کېږي.

ددې مانا څرګندولو لپاره باید د سکولارېزم په مفهوم او ددې د یوې پایلې - چې له سیاسته د دین بېلول دي- په باب ښه سوچ وکړو. په دې قید چې سکولارېزم له سیاسته د دیانت د بېلولو پر مانا نه ده او له سیاسته د دیانت بېلول، حداکثر د سکولارېزم یوه له څانګو یا مېوو ده. دا دواړه پوره یو نیول او پر یو بل جوخت او منطبق ګڼل سم نه دي او ددې اصطلاح له تاریخي کارونې سره اړخ نه لګوي.

په لغت کې «سکولوم» زمانې، وخت، پېر او عصر ته وایي. سکولار یعنې ننی، عصري او زماني. د لویدیځ په فلسفي ښوونځیو کې ویل کېدل چې هستي دوه مرتبې لري: یوه زماني او بله لازمانه؛ او په بله وینا، یوه مرتبه د زمان له پاسه او بلې ترې ورلاندې ده او د اسلامي حکیمانو په تعبیر: «زمانیَات». نو کله چې له «زمانې» وینه کېږي، منظور یې مادي نړۍ او طبیعت دی؛ مقابل یې د مادې او طبیعت ورهاخوا نړۍ ده. مخکېنې عموم حکیمان په دې باور ول چې د طبیعت ورهاخوا نړۍ، زمان، مکان او ماده نه لري او دا طبیعت نړۍ ده چې د زمان او وخت تېرېدل رانغاړي. نو ځکه د طبیعت یوه ځانګړنه یې وخت ښودلی دی. او کله چې وایي، زماني نړۍ؛ یعنې د طبیعت نړۍ.

نو ځکه سکولارېزم په دقیقه مانا یعنې د طبیعت پر لمن پېښه ایښوول، او طبیعت ورهاخوا (ماوراً الطبیعت) ته ورشا کونه او تر ټولو مهمتر، دین چې ماوراً طبیعي یو څیز دی په شننو او سپارښتنو کې نالیدلی ګڼل. سکولارېزیشن هم چې ګڼ مفاهیم لري، له عمومي ډګرونو د دین ایستل او له سیاست، اقتصاد، ښوونې او. . . . یې لاسونه لنډول.

په معاصر تاریخ کې دغسې پېښه شوې ځینو او انسانانو لړو ډېر هڅه کړې چې د طبیعت او ماوراً طبیعت حساب یو له بله بېل کړي او دا بېلول کله دومره ظریف ترسره شوي چې محسوس نه دي لکه؛ موږ د بېلېدو پر وخت «خدای پاماني» کوو. د «خدای په آمان» اصطلاح په غیر سکولار فضا او ژبې پورې اړوند ده؛ یعنې د یو بل په ساتنې کې له خدایه مرسته غواړو، او د یو ماوراً طبیعي عنصر پښه رامنځ ته کوو، هم یې په ژبه یادوو او هم یې له زړه غواړو چې مرسته راسره وکړي.

**نور بیا..**




# افغانستان کې: څوک د چا میراث دی؟!

محمد اسماعیل یون

**ډېر وړاندې ماضي ته نه ځو؛ د خپلې اوسنۍ زماني پر قضاوتونو قضاوت کوو، په همدې تېر څلورنیم کلن حکومت غږېږو، هر کار چې د اوسني حکومت په وس پوره نه وي؛ په هغه کې پاتې راشي او یا یې هم په کار کې څرګنده نیمګړتیا احساس شي، نو وایي دا خو د تېر حکومت میراث دی. په همدې یو لنډ او نا معقول ځواب، ټولې خاورې پر تېر حکومت واچوي او په دې ډول خپل ځان له مسولیته وژغوري. خو که چېرې د همدې حکومت رغښت، جوړښت، واکمنو چارواکو، د کورني حالت څرنګوالي او بهرني ملاتړ ته وګورو، نو له تېر حکومت سره په کې ډېر زیات توپیر نه لیدل کېږي. په تېر حکومت کې هم فساد په څپو و، اوس هم دی، هغه وخت هم جګړه روانه وه، اوس هم روانه ده، هغه وخت هم حکومت ائتلافي و، اوس هم ائتلافي دی، هغه وخت هم حکومت له بهرني ملاتړ پرته خپل ژوند نه شو تضمینولای، اوس یې هم نه شي خوندي کولای، هغه وخت هم ځانساتي، غوړه مالان او د وخت زامن په حکومت کې واکمن وو، اوس هم دي...**

... هغه وخت هم د جنګسالارانو واک او راج چلېده، اوس هم چلېږي، هغه وخت هم زورواکو ولسمشر ته مخامخ کنځلې کولې، اوس یې هم کوي، همغه وخت هم د سنبلې (اتلسمه) په وحشت او دهشت نمانځل کېدله، اوس هم نمانځل کېږي، هماغه څېرې چې همغه وخت په ټلوېزیونونو کې ځلېدلې، اوس هم ځلېږي. ډېر کم کیفي او یو څه ظاهري بدلونونه محسوسېدی شي. کومې څېرې چې د بن تر کنفرانس وروسته پر هېواد واکمنې شوې، د کرزي په لنډمهاله، منځمهاله او دوو انتخابي دورو کې یې امتداد پیدا کړ، له یوې دورې بلې ته لا پسې وغوړېدلې، البته په طبیعي ډول به ځینې عمر خوړلې څېرې د ژوند له مداره وتلې وي، خو همغه فکري او سیاسي جریان چې له همغې ورځې حاکم و، تر نن ورځې په ډېر کم تغیر او توپیر سره دوام لري. زه د هغو اشخاصو له جملې څخه یم چې له لنډ مهالې دورې څخه بیا تر ننه پورې د حکومت ټولې اډانې په دقت سره څارم. له همغه پیله او تر دې دمه چې زما په ګډون هر شخص د وخت د ناخوالو پر وړاندې بغاوت کاوه، نو د همغې زماني واکمنو غوړه مالانو، ځانخوښو به د متعصب، ژبپال، نشنلیست او فاشیت په ګڼو نومونو تورنولو. کله چې د اشرف غني د حکومت بڼه راجوړه شوه، نو موږ فکر کاوه چې ظاهراً د یو تریخ او غوخ سړي په وجود کې به د کرزي د وخت غوړه مالان وده ونه کړي، ځای به یې رانه، ژورلیدي او زړور خلک ونیسي، خو کله چې دا حکومت خپل لومړني ګامونه پورته کړل، نو پخواني غوړه مالان هم ګام پر ګام له دې حکومت سره همغږي شول. زه په دې حکومت کې د نورو ډېرو ترڅنګ یو دوه داسې څرګند غوړه مالان پېژنم چې د ولسمشر کرزي د حاکمیت په وروستیو کې یې په پټه او څرګنده زموږ د هغو ملي مبارزو او مظاهرو مخالفت کاوه چې موږ د ملي هویت د خوندیتابه او ځلا لپاره کولې، دې خلکو به همدا ویل چې: [تاسې ((رییس صاحب)) ته مشکلات جوړوئ، دا وخت اوس د دې خبرو نه دی، رییس صیب پرېږدئ چې ملت راټول کړي، اوس د هویت د پورته کېدو وخت نه دی. ] موږ به یې ماجرا جوا معرفي کولو او خپل ځانونه به یې د وخت پر سیاستونو او رمزونو پوه ګڼل. کله چې د ملي هویت د خوندیتابه ستونزه د کرزي له حاکمیته د غني حاکمیت ته راورسېده، نو موږ بیا هم لاریونونو ته اړ شولو، غني بیا د ښاغلي کرزي همغو پاتې شونو ښاغلو ته دنده وسپارله چې موږ سره په دې باب وغږېږي، هغوی بیا موږ ته وویل چې [اوس د دې وخت نه دی چې تاسې دا مسئلې راپورته کړئ، ملک بحران ته ځي. ((رییس صاحب)) نورې ډېرې ستونزې لري، له دې مسئلې څخه تېر شئ او تاسې خو پوهېږئ چې دا ځینې ستونزې موږ ته له تېر نظامه په میراث پاتې دي، دا باید همغه وخت حل شوې وای، د تېر نظام مشکلات اوسنی حکومت او رییس صاحب نه شي حل کولای. ] دا مهال نو زما اوسېله ختمه شوه، ما ویل تاسې نه پوهېږئ چې د تېر نظام میراث څه شی دی او څوک دي؟ د تېر نظام میراث خو همدا تاسې یاستئ، چې په هغه حکومت کې هم والیان او وزیران وئ او اوسني کې هم، دا مشکلات خو هغه وخت کې هم وو، اوس هم دي، هغه وخت هم تاسې چارواکي وئ او اوس هم یاست، هغه وخت هم تاسې موږ په بېلابېلو نومونو تورنولو او اوس هم همدا کار کوئ، هغه وخت به مو هم ویل چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوئ او اوس یې هم وایئ، چې ((رییس صاحب)) ته جنجال جوړوئ، که چېرې د تېر حکومت او یا د کرزي صیب د میراث خبره وي، نو خو ستاسو دواړو په ګډون ډېر د کرزي میراث یاستئ، خپله همدا ښاغلی اوسنی جمهور رییس د کوم نظام میراث دی؟ ایا د بن له کنفرانسه رانیولې، بیا تر ننه پورې د همدې حکومت برخه نه وه؟ ایا دی د مرستو د انسجام اداري مشر نه و؟ د مالیې وزیر نه و؟ د کابل پوهنتون رییس نه و؟ د واک د لېږد بهیر مشر نه و؟ چې په دومره واک کې څوک د تېر حکومت میراث نه وي، نو بیا یې نور څوک میراثیان دي؟

ما هغه وخت دې ښاغلو ته دا خبره هم وکړه، ګورئ چې سبا بل حکومت راځي، هسې نه چې موږ بیا محکومیت کې او تاسې بیا حاکمیت کې اوسئ او بیا به مو موږ د تېر حکومت د میراثیانو په توګه د مجرمینو په تور تورن کړي یو، ایا تاسې به موږ ته داسې تضمین راکړئ چې پر همدې دوو حکومتونو بسنه وکړئ او بل کې شریک نه شئ؟ دا مې یوه بېلګه راوړه، اوس ټول حکومت له داسې بېلګو ډک دی، اوس خبره دا کوم چې د اوسني حکومت اصلي جوړښت په سلو کې (نوي) همغه کسان دي چې په تېر حکومت کې راټاله وو. واکمن، مداحان، فسادګر او نور همغه د وخت زامن دي چې پرون هم په حاکمیت کې وو، نن هم دي او سبا به هم وي. ډاکټر غني کېدی شي یوازې (لس) سلنه اشخاص چې په هغه کې یو شمېر ځوانان او ځینې هغه اشخاص چې له دې ټولنې څخه لري او له لویدیځه راغلي دي، د حکومت پر ځینو مهمو څوکیو ګومارلي وي، نور نو هماغه غر او هماغه کربوړي دي.

اوس پوښتنه دا ده چې د تېر حکومت میراث خو اوسني حکومت ته پاتې شو، د اوسني به هم سباني ته پاتې شي که نه؟ په خواشینۍ سره باید ووایو چې ځواب یې (هو) دی، هغه څوک چې د وخت پر نبض پوه دي، هغوی د زمانې له باد سره سم چلېږي، د وخت د توپان مخې ته نه ودرېږي، خو هغوی چې د وخت نادودې نه شي زغملی، له هغه سره مقابلې ته وردانګي، یا یې د وخت توپان له ځان سره وړي او یا د توپان مسیر بدلوي، خو د وخت زامن له وخت سره سم زېږي، بیا ژوندي کېږي او د وختونو له رنګونو سره خپل رنګ بدلوي، تر موړه ډېر ((هوښیار)) دي.

موړه لېونو د زمانې ګرېوان نیولی دی
خلک هوښیاران دي له وختونو سره ځي

ډېر حکومتونه او ډېر نظامونه همدغه ډول اشخاصو له ګڼګه غورځولي. د وروستۍ پایلې په توګه مې وړاندیز دا دی چې د اوسني حکومت د مهمو سیاسي او اداري چارواکو یو اوږد لېست باید د رسنیو او زماني حافظې ته وسپارل شي چې دا ډول اشخاص بل حکومت ته د متواتر میراث په توګه په میراث پاتې نه شي په دې مانا چې هغه حکومت به هم دغسې ریشخند کړي، لکه دا دوه تېر حکومتونه چې یې هم وخوړل او هم یې ملامتې پر نورو وربار کړه. هدف دا دی چې د ((غني حکومت)) ((غني میراث)) کوم ((غریب ولسمشر)) ته پاتې نه شي.



# هغه څه چې ما هند ته د درملنې لپاره له سفر څخه زده کړل

حبیب الرحمن مومند

**زه له هغو افغانانو یو یم چې څه موده وړاندې د درملنې لپاره هندوستان ته تللی وم. هغه څه چې مې له دې سفره زده کړل، په لاندې توګه یې له تاسې سره شریکوم:**

۱:- کله مو چې هندوستان ته د درملنې لپاره د سفر پرېکړه وکړه، نو لومړی خو هڅه وکړئ چې له دې ځایه لا د روغتون، ډاکتر او ځای په اړه له کوم داسې کس څخه د مرستې غوښتنه وکړئ چې هندوستان ته ځي راځي، یا هلته د درملنې او سیاحت لپاره د سفر تجربه لري چې ځینې اړین معلومات در سره شریک کاندي او لارښوونې درته وکړي.

تاسې کولای شئ انلاین هم مخکې له مخکې په هند کې د روغتیایي خدماتو په اړه معلومات را ټول کړئ. البته پر انلاین اعلانونو باور مه کوئ، خو عمومي معلومات که ترې واخلئ ښه به وي.

۲:- که چېرې پر دې بریالي نشوئ یا مو داسې کس نه پېژاند چې اړینې لارښوونې درته وکړي، نو کله چې هندوستان ته ولاړئ ډېر باید هوښیار او ځیرک اوسئ! که اردو/ هندي یا انګرېزي ژبو سره بلد وئ، هر څه درته اسانه کېږی.

ډېر کله هغه کسان له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي چې له یادو ژبو سره نه وي بلد. کله چې د ډېلي هوایي ډګر کې ښکته شوئ، هرومرو به سفر ستړي کړي یاست، داسې ځای ته به مو اړتیا وي چې ارام پکې وکړئ، یا کېدای شي وږي شوي یاست، نو هرومرو به د داسې پوښتنو د ځوابولو په لټه کې یاست چې دلته د اوسېدن ځای او افغاني خواړه به څنګه او چېرته پیدا کوو؟

خو کله مو چې له هوایي ډګره پښه را دباندې کړه لسګونه افغان کمیشنکاران به مو مخې ته ودرېږي! ددې ټولو پوښتنو ځوابونه به په ډېره خوږه ژبه درکوي، خو پام مو وي! ژر یې تر اغېز لاندې را نشئ! که هر څومره هغه چالاکه وی تاسی باید هغومره ورسره هوښیار او ځیرک و اوسئ. په هندوستان کې د افغان مساپرو لپاره تر ټولو ډېرې ستونزې او مالي تاوان د همدې افغان ژباړونکیو لخوا ور اوړي، نو که ژباړونکیو ته مو اړتیا وه او خپله مو ژبه نه وه زده، د ژباړن او لارښود په انتخاب او ورسره چلن کې هوښیار او محتاط اوسئ.

۳:- کمیشنکار داسې نه وایي چې زه کمیشنکار یم، ځان درته ډېر سپین-سوچه مسلمان او افغان معرفي کوي. درته وایي به، زه درسره د ژباړونکي په صفت ګرځم، دا به هم درته وایي، تاسې خو زموږ مېلمانه یاست! له افغانانو سره ګرځېدل او د ستونزو هوارول یې زما لپاره لوی ویاړ دی.

ژباړن یا همدا کمیشنکاران ډېر کله تاسې په نوي ډېلي کې د «لاج پت‌نګر» په نوم سیمې ته بیایي، پدې سیمه کې ډېر افغانان کاروبارونه لري. هلته چې ورشئ د افغانانو د استوګنې کوټې، افغان رستورانټونه او د افغانانو نور دکانونه بېخي زیات دي. نو کمیشن‌کار به مو حتماً هلته بیایي.

۴ :- پام مو وی که کمیشن کار یا همدې افغان ژباړونکو ته لږ عاجز او ساده معلوم شوئ، نو بیا پر چا هېڅ رحم نه کوي. خپله هم درنه پیسې وهي او په نورو مو هم پلوري. د بېلګې په ډول، که د ځان لپاره مو د اوسېدن ځای نیوه نو دوه یا درې برابره به یې له هماغه اصلي قیمته پورته درته نیسي، څکه د کرایي ځایونو له مالکانو سره په کرایه کې د دوی فیصدي ګډه ده، څکه دوی ورته خلک پیدا کوي، نو هڅه وکړئ له ژباړونکي پرته ځانته کوټه او ځای پیدا کړئ او که لږ ځیرکي وکړئ نو په ښه بیه ښه ځای د استوګنې لپاره نیولی شئ.

همدا رنګه که یې چېرته درته وویل چې تاسې دلته کوټه کې اوسئ زه به له ریسټورانټه درته دلته خواړه را وغواړم تاسې ترې مننه وکړئ او په یوه پلمه ترې ځان تېر کړئ، څکه چې هغه له ریسټورانټ‌وال سره هم اړیکي لري او هغه خواړه چې ته یې خپله په ۱۵۰ اخلې تاته به یې په ۲۵۰ راوړي.

دا چې دوی هلته ښه بلد دي، نو هر دوکاندار، ټکسي چلوونکی، د کورونو مالکانو، همدا رنګه دې ته ورته نورو هغو ته چې یو مساپر ورته اړ وي، هغو ټولو ته دوی بازار موندنه یا مارکیټینګ کوي، نو کوښښ وکړئ هلته هر څه د ځان لپاره خپله واخلئ، څکه په نیمه بیه به یې تر لاسه کوئ.

یو څه ته مو تل پام ساتئ! له خپل ژباړونکي سره په داسې لهجه خبرې کوئ

چې هغه دربانديې شک ونکړي چې په اصليت يې پوهيدلي ياست، ځکه تاسې لا هم ځينو مواردو کې دده مرستې ته اړ يئ، نو ددې پر ځای چې هغه تاسې تېرباسي، هڅه وکړئ، دومره ځيرک واوسئ چې د هغه له بلدتيا او وړتيا څخه پداسې توګه ګټه واخلئ چې له زيانه يې خوندي شي.

۵:- کله مو چې د اوسېدن ځای وموند، د ترجمان پر بيا بيا ټينګار سربېره روغتون ته د تللو لپاره بيړه مه کوئ. ستاسې د استوګنې شاوخوا افغان ريستورانټونو ته يو دوه وخته د خوراک لپاره ورشئ هلته به لسګونه نور افغانان وګورئ چې دوی هم ستاسې په شان د درملنې لپاره هندوستان ته راغلي دي.
له دې افغانانو سره خبرې وکړئ او ترې وغواړئ چې په هندوستان کې د استوګنې او درملنې په برخه کې خپل معلومات او تجربې در سره شريکې کړي.
د يوه کس پر معلوماتو بسنه مه کوئ! له څو کسانو سره په دې اړه خبرې وکړئ. باور لرم چې ډېر ښه معلومات او ډېره ښه مرسته به تر لاسه کړئ.
تاسې کولی شئ، له نورو هغو افغانانو څخه چې دوی هم د درملنې لپاره هندوستان ته راغلي، د استوګنې، روغتونونو، ډکترانو، په روغتونونو کې د ژبو او نورو هغو شيانو په اړه چې په دې مساپرۍ کې اړتيا ورته لرئ، معلومات تر لاسه کړئ. زه باور لرم چې ډېر ښه معلومات او ډېر مرستندويه خلک به ومومئ.
ستاسې ژباړونکی به له تاسې په وار وار پوښتي چې څه وخت روغتون ته ځئ؟ کومو روغتونونو ته چې دی ناروغان پيدا کوي، د هماغو روغتونونو ستاينه به درته کوي، او دا به درته وايي چې که اړتيا وي زه به د روغتون امبولانس ته زنګ ووهم چې تاسې په تکليف نشئ، خو تاسې بايد ډېر پام وکړئ، ترڅې ښه ډاډمن شوي نه ياست او پر ژباړونکي سربېره مو له نورو افغانانو -چې هند ته تللي- معلومات نه وي تر لاسه کړي، تر هغو به پرېکړه نکوئ، ځکه خدای مکړه داسې نه وي چې پخپله پرېکړه مو پښېمانه شئ.

٦:- کوښښ وکړئ له هغو کسانو سره مشوره وکړئ چې هلته د درملنې لپاره تللي وي، ځکه په هغو کې بلد او پوه کسان پيدا کېږي، هغه کېدای شي د روغتون او ډاکتر په هکله ښې او لازمې لارښوونې درته وکړي.
کله مو چې هغوی پيدا کړل، خپله ټوله کيسه ورته وکړئ. د خپل ژباړونکي په هکله مو هم ورته وواياست.
هېڅکله له دوکاندار يا افغان ريسټورانټوالو څخه د مرستې غوښتنه مکوئ، ځکه هغه ټول کميشن‌کاران دي، په ژبه ډېر خواږه وي او ډېری يې له بده مرغه افغانان دي چې همدا کارونه کوي.

۷:- کله مو چې د ډاکتر او روغتون په اړه ښه ډاډ تر لاسه کړ، بيا ورشئ. کېدای شي هماغه روغتون خپل ژباړونکی ولري.
کوښښ وکړئ پر دې هم ځان پوه او ډاډه کړئ چې په ياد روغتون کې کميشن‌کاران ځای ونه لري. خپله ژباړونکی کېدای شي تاسې ته د ياد روغتون په اړه ډېر څه ووايي. کېدای شي هغه کوښښ وکړي چې تاسې ياد روغتون ته له ورتګ څخه منعه کړي، خو تاسې يې په خبرو باور مکوئ. ورته ووایاست چې تاسې ته ددې روغتون پته له افغانستانه چا درکړې. ورته ووايئ، ددې روغتون په هکله هغه کس پوره معلومات لرل، په وار وار زموږ ناروغان دلته د درملنې لپاره راوړل شوي او ښه درملنه يې شوې ده.
له کميشن‌کار يا هماغه ژباړونکي سره مو اړيکي داسې وساتئ چې هغه په دې پوه نشي چې تاسې يې په اړه ښه پوهېږئ. هغه ته د يو نېک سړي په سترګه ګورئ. په خبرو کې د هغه د شخصي ژوند په هکله پوښتنه ترې کوئ. د اصلي ځای، کلي وطن په خبرو يې بوخت ساتئ او ورته وايئ، تاسې ډېر زړه سوانده او نېک عمله کس ياست، خدای دې ښه ژوند درکړي. کېدای شي چلند يې له تاسې سره نورمال شي، بيا به ډېره هڅه نه کوي چې دوکه درکړي.
د حق الزحمې په هکله ترې مخکې پوښتنه وکړئ چې له تاسې سره په کوم حساب ګرځي، کېدای شي درته ووايي، زموږ ژباړونکو حق الزحمه دومره ده. دا ددې لپاره ښه ده چې په پای کې مو حساب پاک وي.

۸:- کله مو چې درملنه وکړه او له روغتونه را وتلئ، ډاکتر به درته درمل ليکلي وي، هڅه وکړئ درمل د هماغه روغتون له درملتونه تر لاسه کړئ. کېدای شي ژباړونکی مو درته ووايي، درمل به له روغتونه دباندې بيا را واخلو. دا به هم درته ووايي، راځئ اوس به تاسې هم د روغتون له چاپېرياله ستړي شوي ياست، زه به مو د اوسېدو ځای ته بوځم او درمل به مو هم بيا زه کوټې ته در وړم. هڅه وکړئ په يو ډول قناعت ورکړئ او ورته ووايئ، درمل به له دې ځايه را سره واخلو، ښه نه ده چې بيا ته پسې سرګردان شې.
دا ددې لپاره اړينه ده چې د روغتون درمل ښه کيفيت هم لري او کېدای شي د بازار تر هغو يې بيه هم ټيټه وي او دوی چې شله کېږي په دې خاطر چې د بازار درملتونونو کې هم فيصدي اخلي. د بازار د ځينو درملتونونو د درملو د کيفيت په اړه هم پوښتنې شته او بيې يې هم لوړې وي.
هيله ده چې دا څو ټکي به زموږ له هغو هېوادوالو سره مرسته وکړي چې د درملنې لپاره هندوستان ته ځي. که چېرې تاسې هندوستان ته د علاج لپاره د سفر پر مهال دا ټکي په پام کې ونيسئ ډېرې ستونزې به مو کمې او د سفر پر مهال به خوندي يئ.



# حق خویش را بخواهید!

## (پشتون ها بخوانند!)

در حاکمیت کرزي، زماني که مساله ي تامين حقوق تبار ما مطرح مى شد، ادبيات مورد استفاده ى مغرضان، بهانه ي زعامت و رياست پشتوني بود. آنان وانمود مي کردن چون بالاترين مقام از اين قوم است، همين «نقطه ى نيرنگى»، کفايت مى کند.
نياز هاي جدي و تامين حقوق ما، بخشى از روشنفکران و فعالان پشتون ها را مراقب کرده اند که بر اثر فشار خارجى و وجود سياست هاي گوناگون، بخش عمده ي حقوق مردم ما در حالي که با موضع جهاديان ناراض و طالبانى که مخالف حاکميت استند، ضايع شده است، بهانه ي رياست جمهوري نيز باعث مي شود حقوق ما هدر بروند.
جغرافياي پشتون ها در هرکجاي افغانستان که باشد، غم و اندوه را به عنوان سهمي که در عدم تامين حقوق ما، قايل شده اند، حداقل در ساليان ديگر نيز ميراث مى گذارد. اجحاف در جامعه ي روستايي ما، غم انگيز تر از هر جاي ديگر، درک مى شود.
اين آفت اگر از سويى تهديد جدي براى نسل هاي آينده ي پشتون هاست که از سواد و آگاهي بي بهره خواهند ماند، در سوي ديگر، اکثريت مردم اين کشور را در سراشيب سقوط و ناداري، زير دست کساني قرار مى دهد که با نفوذ و حضور خارجى، کمترين تعهد شان در برابر ملت، ژست مردمانى ست که در کشور ما، از ميراث ها و دارايي هاي خود ما، براي ما خيرات دهند و خواهان شکرگزاري نيز باشند.
به مردم خود پيشنهاد مي کنم: در کشوري که چرخه ي هستي اش با توان شما مي چرخد، و اراده ي شما، حرف آخر است، فقط به رياست جمهوري بسنده نکنيد! از حق تان نه تنها براي رفاه، بل براي تثبيت و تضمين حضور تاريخي، کنوني و آينده دفاع کنيد! کمترين غفلت در حصه ي سهم و حقوق، جايگاه ما را نه فقط به عنوان بزرگ ترين قوم افغانستان، عقب مي زند، بل هستي و دارايي مردم را بر باد فنا مى دهد.
تجربه ى ۱۷ سال در پيامد رويداد هاى خونينى که از ۷ ثور آغاز شدند، هشدار دهنده اند. ديگر رفع نياز فقط با نمونه اى از جنس تکنوکراتان که فقط در زمان ضرورت به آرا و حمايت، عقب دروازه هاى ما مى ايستند، گذشته است.
تنها يک رياست جمهورى پوشالى، به درد ما نمى خورد! تامين حقوق، نياز ها، جلب سرمايه گذارى ها و تداخل قومى به عنوان بزرگ ترين واقعيت اين کشور، آرمان هاى تبار ما استند.
در ساليان اخير براى اهداى انواع امتياز به جانيان، جنايتکاران و خاينان، لقب و صفت دادند، اما نمونه ى قبلى به بدترين دشمن موتلفانى مبدل شد که از امضاى او به هر کجا رسيدند و در تجربه ى اين تداوم شرم آور که اکنون با تمام کيفيت تحصيلى به ما پشت کرده است، ما نيز به درس هاى رسيده ايم که يک رياست به نام، ديگر ارزشى ندارد.
در حالى که شکستن تابو هاى گروهک ها، احزاب و جناح هاى غيرپشتون دخيل در بحران افغانستان، فرض مبارزه ى اجتماعى و سياسى ماست، نياز به نمايشاتى نداريم که کسى يا کسانى به نماينده گى از ما، از سهم ما بُبرند و پشت کرده به حقوق ما، ژست بگيرند که گويا شخصيت ملى اند و ايجاب مى کند حقوق ما سال هاى ديگر عقب بيافتند تا در ضياع آن ها، کسانى شريک جرم اين حاکميت باشند که کارى جز طرد، انحصار، تاراج و اعتراض ندارند.
ما به شکرانه ى اجحاف به قوم، قربانى مى دهيم که در اين نظام معلق و ناکارا، ديموکراسى داريم و با هتاکى فرهنگ رسانه يى و آزادى فکرى آن، بايد بپذيريم که خورد و نوش ديگران، گويا موجه اند. با اين منش، به سياهى لشکر هايى ماننده شديم که وظيفه ى شان رسانيدن يک «نمونه» به ارگ است.
تا پايان هر قشون کشى انتخاباتى و حمايتى، توهين مى شويم، حقوق ما ضايع مى شوند و شاهدانى استيم که پيکره ى زنده اى را مانند که سر ندارد، اما مى تپد و در ضياع هستى او، حيات اين کشور در ناعادلانه ترين صورت، به خورد و رفاه کسانى مى رود که در پايان حضور ناکام، مانند چرکى از لاشه ى حاکميت ائتلافى مى افتند و ناگهان هزار انواع ضد افغانى مى شوند.
۱۷ سال پس از حاکميت هاى ائتلافى، ضياع حقوق ما با فرهنگى تعميم يافته است که فقط با رياست چند نمونه، بهانه مى سازند و تبار ما، در حالى نفى مى شود که بخش بزرگ اين حاکميت، از آن جناح هاى بحران و خيانت تشکيل شده است که اگر بر رياست کميسيون حقوق بشر آن خنديد که عضوى از بدترين تنظيم «سال هاى خون و خيانت جهادى»، به دلقک مى ماند، مسخره نيست که تمام جوانب خيانت، تاراج و جنايت، اعضاى حاکميت ننگين تنظيمى با تغيير ظاهر، بانيان ديموکراسى و مدعيان اخلاق و تامين عدالت اجتماعى مى شوند!
اگر حضور غير پشتونى در حاکميت به نسبت انحصار و دريافت زياده از حق ديگران است، چرا تماشا کنيم و زيان ببينيم که فقط يک رييس نمونه داريم و سهم ما براى تامين حقوق، فقط در گرو رياست اشخاصى باشد که ما را فداييانى مى دانند که بايد براى رعايت همتبارى، از خوان خود بُبريم و در حالى به دهان ديگران بياندازيم که نيت خير ندارند.
از همين امروز، مساله ى حقوق خويش را جدى بگيريد! اگر کسى از گروهکى نمايش رسانه يى مى دهد که تا ۵ تاى آنان در سهميه ى کابينه، فرهنگ نشود و از تظاهر حضور خيابانى، تشکيلات نسازند که در تنوع ابتکار مدنى، يک پى هم، زياده از حد بخورند و گروه ديگر خط و نشان بکشد که نماينده گى آنان از آن «سنگ زار»، براى تمام افغانستان، کفايت مى کند، نبايد از گريبان هيچ کسى رها کنيم که براى رياست و حمايت، ما را مى خواهند و اما حقوق ما در ميزان معامله و ندانم کارى هاى آنان، قصه ى مفت سياست هاى افغانستان مى شوند.
به ويژه در چهار سال اخير، آخرين ميخ ها را به تابوت آرزو هاى مردم کوبيدند. هيجان و التهاب شايسته سالارى با پشت کردن به حمايت هاى مردم که در صف هاى طويل راى دادند، انگشتان شان بُريده شدند و دغدغه ى خاطر قشر تحصيل کرده و فرهنگى ما، دفاع از حکومت بود، به سرخورده گى، خجالت، خشم و آزرده گى مبدل شده اند.
يک مجموعه ى مافيايى، هارتر از گذشته، به ما، مردم ما، تبار ما و حقوق ما پشت کرده است و با تف انداختن به روى همه، براى ما سريال مى سازد. سريال تعيينات، هنوز از ماجرا هاى «سندباد بحرى» (کمال سادات)، ناگفته ها دارد که در صد ها نمونه ى در حال انتظار، کل مردم و حاميان سياسى، فرهنگى و مدنى را دوره زده اند و از حقوق آنان، کودکستان دولتى ايجاد مى کنند.
اکنون که قبول طرف مسلح درگير، جزو اجنداى دوستان بين المللى شده است و بخشى از به اصطلاح دست آورد هاى مذکر و مونث تعديل مى شود، ظاهر سازى براى مکتب ها و «ايديالوژى هاى وارده»، حکومت را که بى شباهت به روز هاى کارمل مى ماند، تبرئه نمى کند.
فقط چند ماه بعد، بار ديگر محتاج ما مى شوند، اما تا آن زمان، ضمن پوزش از عامه ى مردم که با منطق ما توجيه مى شدند «اين ها خوب اند»، مى خواهيم حساب و کتاب تان واضح باشند! بار ديگر به زور ما به ارگ خواهند رفت، اما تحفه اش حکومت فاسد و پوچى مى شود که در فرصت ديگر، با پايان تعيينات فمينيسم، «دو جنسه ها» را روى کار خواهند آورد.
بهتر است به حال خويش دل بسوزانيم! اگر در منگنه ى «بد و بدتر» بار ديگر گير مانديم، حداقل براى کسب حقوق خويش تعهد بخواهيم. در سال هايى که آينده ندارند، بهتر است از عذاب کودکان، دوجنسه ها و فولش هايى (فولبرايت ها) در امان بمانيم که در برابر انبوه مردمى که از حکومت حمايت کردند، با اين همه تحصيل کرده، فرهنگى و اهل اين کشور، سرمايه هاى دولتى را ضايع مى کنند. آنان از مدرک اسناد «فولش» (FOOLISH)، به کشور هايى مى روند که آمده بودند. واى به حال ما که در گند آنان دست و پا بزنيم!
چهار سال انتظار براى مشارکت در نظام، به چهار سال اخذ ريا، توهين و فريب مى ماند. حکومت ناکارا از تريبون تزوير، به شعور ملت توهين مى کند. رفتن به ارگ همان و پشت کردن به ما، همان!
و اما با توانى که به مردم تفهيم کرديم، منطق آورديم و ذهنيت بخشيديم، از دولت حمايت کنند، با تمام کيفيت همان توان از حق خويش دفاع مى کنيم و نيز مردم را در برابر بى خاصيت هايى بسيج خواهيم کرد که بار ديگر محتاج ما مى شوند!

# ولس، د بې لومړيتوبه چارواکيو په لومو کې

لمر مومند

**د ننګرهار جناب والي صيب که هېڅ نه شي کولای، نو يو ورځ دي ماښام مهال خپل ولايت ته نږدې فوټبال سټېډيوم ته څېرمه سر ښکاره کړي، د ټاپې ترلاسنې لپاره دې د انساني سيلاب ستونزې او زجر له نږدې وګوري، له يخنۍ دې د ښځو او ماشومانو کړېدلې ژامې او د خپلو پوليسو چلند هم وګوري، نو ګوندې يې پر زړه د رحم اوبه تېرې شي او د ټاپې د شرط د ختمولو ترڅنګ ددغه ستونزې د اواري لپاره څه جدي ګامونه واخلي او ولس له دغه ناورينه وژغوري.**



که په روانه ۲۱مه پېړۍ کې پر اروپا امريکا يا لږ تر لږه پر خپلو ګاونډيو هېوادونو نظر واچوو، نو حکومتونه يې لګيا دي د خپل ولس لپاره د اسانتياوو د برابرولو لپاره شپه و ورځ کار کوي او هغه لارې چارې لټوي، چې ولسونه يې بسيا، ارام او د نورو له احتياجه خلاص وي او هېواد يې پرمختګ وکړي. خو ددغو هېوادونو برعکس زموږ د هېواد چارواکي بيا د ولس لپاره د اسانتياوو د برابرولو په لړ کې هېڅ نه کوي. موږ لا تراوسه پخپل هېواد کې د نړۍ پرمختللې اسانتياوې څه چې بنيادي هغه يې هم نه لرو. تعليم، روغتيا، برېښنا، پاکې اوبه، ټرانسپورټ او. . . . نور مو دومره ګډوډ دي، چې مه کوه پوښتنه.

که خبره اوږده نه کړو، نو هغه د پښتو متل دی، چې وايي: لاس چې مات شي، غاړې ته لوېږي، نو همداسې چې د ولس زړه راډک شي، نو ګيله يې له حکومته کېږي.

له تېرې څه مودې راهيسې وينو، چې په هېواد کې د ګاونډي هېواد پاکستان د ويزې اخيستل " د پيشو په غاړه کې د ټلۍ اچولو" هومره سخت شوي دي. په پلازمېنې کابل او ختيځ ولايت ننګرهار کې هره ورځ زرګونه ښځې، ماشومان، بوډاګان او ناروغان د سفارت او کونسلګرۍ مخې د ويزې د اخيستلو په پار هغه سختۍ او زجرونه ګالي، چې ويل او تصور يې بوړنوونکي خوب ته ورته دي.

کابل کې د سفارت مخې ته او په جلال اباد کې بهسودو پول ته څېرمه د فوټبال د سټېډيوم په دروازه کې هر ماښام هغه غوبل وي، چې له زوی پکې مور او له مور پکې زوی ورکېږي. ماښام مهال چې دغه ځای ته ورشې، نو داسې به وانګيرې لکه د جلاله کېمپ مېله چې پکې لګېدلې وي.

ننګرهار ولايت ته د ولسمشر له خوا د نوي والي جناب حيات الله حيات صيب تر استولو مخکې د پاکستان د ويزې اخيستل دومره ستونزمن نه ول، لکه څنګه چې اوس دي. والي صيب له راتلو سره سم په جلال اباد کې د پاکستان د کونسلګرۍ له چارواکيو سره د ويزې د اسانتيا په پار ګوتې ماتې کړې، خو د نوموړي " د ښو کوډې، په بدو واوښتې" چارې ښه نه، بلکې لا پسې ورانې شوې، پاکستان کونسلګرۍ وتړله او لامل يې د کونسلګرۍ په چارو کې د ننګرهار د چارواکيو لاسوهنه ياده کړه.

کله چې تر يوې مياشتني ځنډ وروسته کونسلګرۍ پرانېستل شوه، والي صيب ددې لپاره چې د ويزې په اخيستو کې د فساد مخه ونيسي، نو د يو نوي ترتيب له مخې يې ختيځ ولايتونو ته مهال وېش جوړ کړ، ولايتونه او ولسواليو ته يې ورځې ځانګړې کړې، څو دده په وينا، په کونسلګرۍ کې د رش او فساد مخه ونيسي.

خو والي صيب د خپل ځانګړي خدای ورکړي استعداد له مخې دغو خلکو ته يو بل کړاو هم واچاوه او هغه دا چې کونسلګرۍ ته له تلو مخکې بايد د بهسودو پول ته څېرمه فوټبال سټېډيوم ته ورشي او د ويزې اخيستو لپاره د جناب والي صيب ټاپه ترلاسه کړي او تر هغې وروسته کونسلګرۍ ته لاړ شي. که دا ټاپه نه وي، نو ويزه ميزه هم نشته.

دا نو د والي صيب ټاپه نه ده، سم پل صراط دی!. ماشومان، ښځې، سړي، بوډاګان، سپين سرې او نور ددغه ټاپې د ترلاسنې لپاره د ژمي په دې کنکريزو يخو شپو کې له ماښامه تر سهاره يخه شپه رونوي، خو بختور هغه دي، چې سهار ورته ټاپه ولګي او بيا ورته په کونسلګرۍ کې ويزه. خو ډېرى خلک پر شپو شپو انتظار سربېره له ټاپې پاتې شي او بېنوا خپلو سيمو ته ستانه شي.

په ټولنيزو رسنيو ددغې بدې ورځې تصويرونه خپاره شول، ځينو خو پکې د تېل ماتېل، رش او يخنۍ له امله د ماشوم د مړينې او د ښځو د ضعف کېدو او د پوليسو له خوا پر دوی د ګوزارونو راپورونه هم ورکړل، خو د جناب والي صيب حيات خان او د بهرنيو چارو د وزارت چارواکيو(!) پرې هېڅ غوږ نه ګراوه او لږ تر لږه دا يې هم مناسب ونه ګڼل، چې ددغې ستونزې د اواري لپاره ځان وخوځوي.

د ننګرهار د ولايت وياند پر ټولنيزو رسنيو د والي صيب د ټاپې د ترلاسنې په پار د رش، د ښځو د ضعف کېدو او د ماشوم د مړينې او پر انعکاس ټلويزيون د هغه راپور تر خپرېدو وروسته چې د ويزې په تمه د ناستو خلکو په ناورين او ناډودو يې برابر کړی و، پر خپلې فيسبوک پاڼې ددغه ټوله پړه پر پاکستاني کونسلګرۍ واچوله او تېنګار يې وکړ، چې ترڅو کونسلګرۍ هره ورځ ۱۸ سوو کسانو ته ويزې ورنه کړي، دا ستونزه او د خپلو کړاو به همداسې روان وي.

که هر څه وي، زور يې له بېچاره ولسه وځي. په نورې نړۍ کې د سفارت او کونسلګرۍ اړوند ستونزې د بهرنيو چارو د وزارت له خوا د ډيپلوماتيکي چينلونه له لارې اوارېږي. هر هېواد هڅه کوي، د خپلو اتباعو د جايزو حقوقو او هغوی ته د اسانتياوو د برابرولو لپاره له اړوندو هېوادونو سره خبرې کړي او له دې لارې ستونزې اواري کړي.

خو له بده مرغه زموږ د بهرنيو چارو وزارت چارواکي په سياسي چنو لګيا دي، د ولس غم ورسره بيخي نشته. د پاکستان د ويزې د ترلاسنې په لړ کې اوس هم خلک له پرېمانو ستونزو سره مخ دي، خو د بهرنيو چارو وزات بيخي غوږ نه ګروي. زما په خيال دا ستونزه ورته لومړيتوب نه لري، ځکه يې کيسه کې نه دي. دوی ته ښايي له پاکستاني چارواکيو سره په دې اړه خبرې وکړي، دا ستونزه اواره کړي، خو له بده مرغه چارواکي په نورو بېلابېلو بې لومړيتوبه کارونه اخته دي.

که څوک دا وي، چې افغانان ولې پاکستان ته ځي؟ نو دوی دې دا پوښتنه دې هم له خپلو فاسدو چارواکيو وکړي، چې چې په تېرو ۱۷ کلونو کې يې ولې يو معياري روغتون جوړ نه کړ، چې د درملنې لپاره پاکستاني روغتونونو ته له تګه خلک منع کړي؟. زموږ چارواکي نمايشي کارونه ډېر کوي، خو د عمل يې هېڅ پته نه لګي.

موږ د ننګرهار ولايت له جناب والي صيب حيات الله حيات نه جدي هيله کوو، چې د ويزې د اخيستو لپاره دې خپله کونسلګرۍ وتړي (د ټاپې شرط دې ختم کړي). که والي صيب وايي، چې له دې لارې يې د فساد مخه نيولې، نو دا خوبونه دې اوبو ته ووايي. جناب والي صيب دې د ټاپې لپاره د خلکو د ځورولو پرځای دې دغه ستونزه د بهرنيو چارو د وزارت له چارواکيو سره يوځای تعقيب او د اواري لپاره دې يې جدي هلې ځلې وکړي. که نور څه نه شي کولای، نو د ويزې اخيستو هماغه زوړ سيستم دې بېرته فعال کړي، چې د خلکو د ځورونې مخه ډپ شي.

زموږ ګيله له پاکستاني کونسلګرۍ نه، بلکې له خپل حکومته ده چې ولې د ولس ستونزې نشي درک کولای؟ ولې دومره شمکور دي چې پخپل ۱ کيلومترۍ کې ورته انساني سيلاب، ستونزې، د ماشومانو چيغې، د ښځو نارې سورې او فرياد نه ښکاري؟

جناب والي صيب که هېڅ نه شي کولای، نو يو ورځ دې ماښام مهال خپل ولايت ته نږدې فوټبال سټېډيوم ته څېرمه سر ښکاره کړي، د ټاپې ترلاسنې لپاره دې د انساني سيلاب ستونزې او زجر له نږدې وګوري، له يخنۍ دې د ښځو او ماشومانو کړېدلې ژامې او د خپلو پوليسو چلند هم وګوري، نو ګوندې يې پر زړه د رحم اوبه تېرې شي او د ټاپې د شرط د ختمولو ترڅنګ ددغه ستونزې د اواري لپاره څه ګامونه واخلي او ولس له دغه ناورينه وژغوري.

همدا اوس ولس په دې ګومان دی، چې چارواکيو د فساد د مخنيوي په پلمه ټول فساد مخصوصو کړيو پورې منحصر کړی او دليل يې دا يادوي، چې پخوا په ۳ زره کلدارو کار کېده، خو اوس دا قيمت ۲سوه ډالرو ته رسېدلی. دا خبره د خلکو ترمنځ ډېره عامه ده او ښايي والي صيب هم پرې خبر وي.

والي صيب ځوان دی، انرژي لري، سياسي کيرير يې ښه پيل کړی، په ګڼو ولايتونو کې والي پاتې شوی او د مديريت چرچو يې ټولنيزې رسنۍ پر سر اخيستي دي، خو که چيرې په ننګرهار کې د کونسلګرۍ د ستونزې او د ختيځ مېشتو ولسونو ته د اسانتياوو په برابرولو کې پاتې راغی نو يقين مې نه شي که سياسي کيرير يې اوږد او د ټولنيزو رسنيو روانې چرچې يې دوامداره پاتې شي.

په هر حال، زما د ليکنې مطلب دا نه دی چې زه بدنيت لرم، دا تراخه حقيقتونه ددې لپاره وايم چې دا ناخبره چارواکي پرې خبر کړم. که والي صيب له دې ټولو ناخوالو خبر وي او د اواري لپاره يې ګام نه اخلي، نو جرم او که ناخبره وي، نو "عذر از ګناه بدتر".



# ننګوونکي پوښتني

اسماعیل لاروي

**جغرافیه د چاپېریال، تخنیک، مدیریت او انسان له متقابلو اړیکیو څخه عبارت ده. دلته له انسانه موخه د هغه فزیکي او ظاهري شتون نه دی، بلکې له ټولو پېچلتیاوو او طرز تفکر، ایډیولوژی، مذهب، لیدلوري، د نړۍ له شتو اخځ او... په مفهوم مطرح کېږي (پاپلي یزدي).**
**موږ یوازې د جغرافیې تعریف داسې کړی، کومه محدوده چې پکې اوسو، همدا زموږ جغرافیه تشکیلوي. حال دا چې په همدې محدوده کې د انساني مناسباتو په باره کې درک او پوهه هم لازم دي او ټول هغه ارتباطات چې د همدې محدودې انسان یې له محیط او له محدودې بهر لري، د جغرافیې په شناخت کې راشره مرستة کوي او بالاخره انسان یوازې یو فزیکي او ظاهري موجود نه دی. فرهنګ، اقتصاد، سیاست، اجتماعیت او نور ګڼ اړخونه له همدې نومه را څرخي...**

... موږ دلته د انساني اړیکیو او مناسباتو په باره کې نه غږېږو، خو په دې باید وپوهېږو چې زموږ په هېواد کې د انسان ژوند د کومې کچې او له کومو ننګونو سره مخامخېدونکی دی؟ آیا موږ د پایښت لرونکې پرمختیا په کوم پړاو کې یو؟ پایښت لرونکې پرمختیا بې له دې چې د راتلونکیو نسلونو اړتیاوې متضررې شي، د اوس وخت غوښتنو ته ځواب ویل دي (ګودرزوند چګینی؛ ۱۳۹۴).

طبیعت د اوسني او راتلونکیو نسلونو مشترک میراث دی، انسان باید له طبیعته داسې استفاده وکړي چې راتلونکیو نسلونو ته همدا امانت په سمه توګه ولېږدول شي او د هغوی حقوق پایمال نه شي.

مثلاً؛ ځنګلونه، څړځایونه، کاني زېرمې، اوبه... هغه څه دي چې باید استفاده تري په داسې توګه وشي چې د راتلونکیو نسلونو د استفادې وړ هم واوسي، خو په افغانستان کې چې د اوسني انسان ژوند بې ارزښته دی، نو راتلونکی به د چا څه یاد شي؟

په ۱۹۷۲زېږدیز کال کې د سټاکهلم نړیواله ناسته د انساني چاپېریال تر نوم لاندې وه. په ناسته کې پر دې ټینګار و چې د نړۍ درېیمه برخه انسانان د لوږې، بېسوادی، فقر، روغتیایي ستونزو او نورو لاملونو له سببه کړېږي او تر هغو چې دا ستونزې موجودې وي، د انساني ژوند پرمختیاوې نیمګړې او له ننګونو سره مخ دي (علیپورنخی او محمد نژاد کیاسری ۱۳۹٦).

د پرمختیا کچه له اقتصادي مسایلو سره اړه لري خو تر څنګ یې ناوړه ټولنیز حالات، د اوبو او هوا ککړتیا، د ژوندیو موجوداتو د نسلونو کموالی، بې عدالتی او نورې ستونزې هم شته. د پایښت لرونکې پرمختیا مفهوم چې په ۱۹۸۰ زېږدیز کال کې ورانډې شوی، اصلاً همدې اقتصادي، محیطي، ټولنیزو او په ټوله کې د اقتصادي ودې پوښتنو ته ځواب و.

د نړۍ په کلي ور ګډېدل څو اړخیز بحث دی چې له یوه اړخه د ملتونو یو کېدل او له بل اړخه د هویت بحران، پخپلسرې توګه د لړکیو د پرمختیا او طبقاتي ټولنیز ژوند مسایل را برسېره کوي (دکتر علیپور او ملګري یې؛ ۱۳۹۵).

چې دا مسایل بیا پخپل ذات کې د انسان د بېګانه‌ګی او محرومیت باعث ګرځي. د انساني ټولنو په بدلون کې د ټیکنالوژۍ لوی لاس دی چې اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي بدلونونه یې له ځان سره لرلي دي. د ټیکنالوژۍ بدلون او پرمختګ د ټولنیز ژوند په جوړښت او اړیکیو اغېزې لري (پاپلي یزدی؛ ۱۳۷۵) او همدارنګه ټولنیز مناسبات هم د ټکنالوژۍ په کارولو او عاملو کې رول لري.

په افغانستان کې د پرمختیا پر وړاندې یو لوی خنډ دا و او دی چې دلته تر ډېره له ټکنالوژي سره واټن ساتل شوی دی.

پرمختیا د انساني ژوند هر اړخیزه مثبت تغیرات بیانوي چې په هغه کې د ژوند د کچې کیفي بدلون له یوه وخته و بل وخته دی.

پرمختیا د انساني ژوند په ټولو اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو او... برخو کې د بدلون مفهوم لري. په هر هېواد کې پرمختیا هله راځي چې پلان جوړوونکي ځواکمن، له محیطي شرایطو او موقعیت سره مناسب او هر اړخیز پلانونه ولري. دا ستونزه له بده مرغه لا هم په افغانستان کې موجوده ده چې شرایطو او اړتیاوو ته په کتو پلانونه او طرحې نشته.

په اوسنی نړۍ کې د انساني ژوند ننګوونکي مسایل د ژوند د چاپېریال ککړتیا، د پاکو اوبو، پاکې هوا، بشپړو او مناسبو خوراکي توکیو او نورو اړینو موادو کموالی جوړوي او همدا رنګه فقر، جنګ، د نفوس ګڼوالی، د طبیعي زېرمو محدودیت، بې عدالتی او نور هغه څه دي چې د ټولیزې پرمختیا مخه یې ډب کړېده.

په درېیمه نړۍ او ځانګړې توګه افغانستان کې جنګ، فقر، بېسوادي، د طبیعي زېرمو ناسمه او (نه) استفاده، د خلکو او حکومت تر منځ واټن، بې عدالتي، د مناسبو پلانونو او پروګرامونو تشه، اداري فساد او نور هغه څه دي چې د پرمختګونو مخ ته یې دېوالونه درولي دي.

## د افغانستان اوسنی وضعیت او د پرمختیا پړاوونه

افغانستان په جنګ کې ښکېل هېواد دی او هره ورځ پکې د نړیوالو او سیمه‌ییزو سیاستونو او زورواکانو تر پښو لاندې بې حسابه بېوزله انسانان ساه ورکوي او یا له بدمرغیو سره مخامخېږي. دلته تر ټولو فعالې اداري او فعالان ایمرجنسي روغتونونه او جراح ډاکتران دي چې د شدیدې جګړې د ټپیانو په خدمت کې دي.

د آریانا نیوز په یوه راپور کې د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو پر اساس ویل شوي ول، په افغانستان کې هره ورځ ۱۴۵ تنه په جګړه او ناچاودو ماینونو کې وژل کېږي.

د لوږې او فقر په باره کې د نړیوال بانک د راپور په وروستی برخه کې راځي: «د فقر کرښه یو ملي نورم بلل کېږي چې د ژوند د اړتیاوو لپاره د لومړنیو لګښتونو څرنګوالی پکې ارزول کېږي، په دې توګه دا لګښت کېدای شي د خوراکي توکیو یوه بسته وي چې د هر شخص لپاره په څلېرویشتو ساعتونو کې ۲۱۰۰ کیلو کالوري انرژي تامین کړی شي. همدا رنګه دغه لګښت د غیر خوراکي توکیو د اړتیاوو برابروونکي، لکه د کور لګښتونه، کالي، تحصیل او ټرانسپورټ هم تر پوښښ لاندې راولي.

د ۲۰۱٦ - ۲۰۱۷ کلونو په ترڅ کې، د هر شخص لپاره د افغانستان د فقر د کرښې معیار په میاشت کې ۲۰٦۴ افغانۍ وې، چې د اسعارو د تبادلې د ارزښت له مخې په هره ورځ کې د ۱ امریکایي ډالر معادل بلل شوېدي.

د ۲۰۱۱ - ۲۰۱۲ کلونو او د ۲۰۱٦ او ۲۰۱۷ کلونو په ترڅ کې د افغانستان د فقر د کرښې کچه له ۳۸. ۳٪ سلنې څخه ۵۴. ۵٪ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی».

د امریکا غږ د یوه وروستي راپور پر اساس ویل شوي چې لا هم په افغانستان کې (٦۰٪- ٦۵٪) وګړي بېسواده دي او د بي بي سي د یوه راپور پر اساس لا هم په دې هېواد کې د لویانو تر څنګ پېنځه میلیونه ماشومان له لیک- لوسته بې برخې دي. د بي بي سي د یوه راپور له مخې چې په ۱۳۹۵ لمریز کال کې خپور شوی، ویل شوي، لا هم د افغانستان ٦۵٪ وګړي د څښاک مناسبو اوبو ته لاسرسی نه لري.

د افغانستان د چاپېریال ساتنې اداره وایي، د هوا د ککړوالي ټاکل شوی معیار په یو متر مکعب کې ۱۵۰ مایکرو ګرامه دی، چې په کابل کې دغه شمېرې پېنځه برابره لوړې دي.

د روغتیا نړیوال سازمان د ارزونو له مخې افغانستان کې هر کال نږدې ۴۰ زره کسان د ککړ چاپېریال او یا هوا له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د بي بي سي د یوه بل راپو پر اساس ویل شوي، په افغانستان کې لا هم ډېری خلک روغتیایي امکاناتو ته لاسرسی نه لري: «د روغتیا نړیوال سازمان (ډبلیو. اېچ. او) د روغتیا نړیوالې ورځې په مناسبت ویلي، په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو وضعیت د اندېښنې وړ دی. دغه سازمان ویلي، ۴۰ سلنه افغانان د اقتصادي ستونزو له کبله روغتیایي خدمتونه نشي تر لاسه کولای».

د روڼتیا نړیوال سازمان پخپل کلني راپور کې افغانستان د نړۍ د ۱۸۰ هېوادونو په لړ کې له سومالیا، سوېلي سوډان او سورېې را وروسته د ۱۵ امتیازونو په اخیستلو سره د نړۍ څلورم فاسد (۱۷۷ رتبه) هېواد ګڼلی. دا او اړوند نور هغه مسایل دي چې د افغانستان وضعیت پکې خورا بد ښودل کېږي او په اړه یې اندېښنې موجودې دي، د نفوس ګڼوالی، د ژوند د امکاناتو کموالی، نیمګړتیاوې او نور هغه مسایل دي چې افغان حکومت یې باید په باره کې بې تفاوته پاتې نشي. د یادو مسایلو تر څنګ د ځمکې تخریب، د طبیعي پېښو د زیاتېدو امکانات، د فقر، جنګ، فساد او نورو اجتماعي ستونزو لا خورېدل او شدت هغه څه دي چې د افغانانو نن او سبا ګواښي.

## څه باید وشي؟

د افریقایي هېوادونو د وروسته پاتي والي په باره کې یو تحقیق شوی او لاملونه یې پکې ښودل شویدي. په دې تحقیق کې راځي چې کاناډا، فرانسه، جرمني، ایټالیا، جاپان، روسیه، انګلستان او امریکا د نړۍ اته لوی صنعتي هېوادونه دي، څېړونکي په دې اند دي چې د نړۍ له دې اتو لویو صنعتي هېوادونو د لارښوونو او مرستو پر اساس دې د افریقا د پرمختیا لپاره پلانونه جوړ کړای شي، د افریقا په وچه کې د همدې لویو صنعتي هېوادونو له سیاستونو او پلانونو څخه باید اعظمي استفاه وشي.

په تحقیق کې راځي، په افریقا کې له انساني، مادي، تخنیکي او طبیعي منابعو څخه مناسبه استفاده او د پرمختګونو پر ټولو اړخونو د سیاسیونو ټینګار او عملي کار ته اړتیا ده. د سیمې او نړۍ په کچه باید اقتصادي او سیاسي اړیکي پراخ شي. په افغانستان کې چې د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه د مرستې او همکارۍ په نوم استازیتوب لري، ولې یې له امکاناتو او مرستو مناسبه استفاده نه کېږي؟

موږ ته د ځنګل د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په درس کې استاد داسې یو فرمول پر تخته ولیکه:

**پرمختیا= ایډیالوژي + سیاسي واک (قدرت) + ټیکنالوژي + مدیریت**

د همدې فرمول په تشریح کې یې د بېلابېلو هېوادونو بېلګې وړاندې کړې. د عربي نړۍ د هېوادونو یادونه یې وکړه چې پرمختګونه یې کړیدي خو ټول د نورې نړۍ له برکته دي. دوی یوازې طبیعي زېرمې لري چې د هغو پر اساس یې اقتصادي حالت نسبتاً ښه دی، نور د ټیکنالوژي، آیډیالوژي، سیاسي قدرت او مدیریت له اړخونو فقیر دي او په وینا یې که نور هېوادونه لاس تري ونیسي، نو د نړۍ د وروسته پاتې او بېوزلو هېوادونو په کتار کې به راشي.

د استاد دکتور محسن علیپور په خبره؛ هېوادونه هغه مهال پرمختګ کولی شي چې د پرمختګونو ابزار یې خپل (بومي) وي او دا وسیلې همدا د فرمول ذکر شوې اجزا دي. په افغانستان کې یوه لویه ستونزه دا ده چې موږ هر څه له نورو غواړو، مرستو داسې بد حالت ته ورسولو چې خپله مو د ژوند کولو ټولې لارې ګودرې ورکې کړې. نړیوال بانک د پرمختیا په ټولیزه توګه د نورو اړخونو د ځواکمنتیا له سببه بولي، وایي؛ په سیاسي کچه تغیر د توسعې لومړنی پړاو دی:




له لوږې او له شته ستونزو سره مبارزه او پرې تمرکز کول د پرمختیا لارې پرانیزي، دا مهال د لوږې او اقتصادي ستونزو له سببه په نړۍ کې ګڼې ستونزې موجودې دي چې د ډېرو ستونزو لامل خپله همدا لوږه او اقتصادي مسایل دي.

د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو تجزیه او تحلیل کول د پرمختیا کړکۍ پرانیزي. د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونو له همدې کړنلارې ښې پایلې لرلي دي. مطلب دا که موږ د خپل هېواد اقتصادي او ټولنیز مناسبات تحلیل نه کړو، په اسانی پرمختیا ته نه شو رسېدلی.

نو؛ د ملي پایښت لرونکې توسعې او پرمختیا لپاره لازمه ده چې د هرې برخې امنیت، فقر، اداري فساد، روغتیا، محیط او د انساني ژوند ټولو یادو شویو ستونزو په باره کې پراخې او دقیقې څېړنې وشي. اجتماعي، اقتصادي او سیاسي مناسبات او اړیکي دې وڅېړل شي او له هغه وروسته دې د هرې برخې لپاره مناسب پلانونه جوړ شي. موږ چې د ایران له محیط سره یو څه بلد شو، نو دلته په هره برخه کې زښته زیات تحقیقات شویدي، مناسبې طرحې او پلانونه موجود دي او د هغو پر اساس ژوند مخ ته روان دی. د نړۍ پرمختللي هېوادونو خو له ایران او نورو ګاونډیو لا زیات کار کړی دی.

د ملي او ټولیزې پرمختیا په برخه کې حکومت ته ډېر مسوولیتونه راجع دي.

په دې وړوکې مقاله کې یوازې عمده ستونزې او ننګوونکې پوښتنې وړاندې شوې چې د هرې ستونزې او ننګونې په باره کې دقیقو څېړنو او عملي کړنو ته اړتیا ده او دا هره ستونزه او ننګونه د حاکم نظام مخ ته یوه لویه پوښتنه ده چې باید مناسب ځواب ورته ولري.

**اخځونه**
پاپلی یزدی، دکتر محمد حسین. سنت مدرنیته، اثرات اجتماعی - زیست محیطی چاهای عمیق و نیمه عمیق. فصلنامه تحقیقات جغرافیایی. ۱۳۷۵.
پاپلی یزدی، دکتر محمد حسین. تکمله ای بر مقاله «تعریف، مفهوم و دیگاهی تازه از جغرافیا» فصلنامه تحقیقات جغرافیایي.
علیپورنخی، ع. محمدنژادکیاسري،ش. راهبردهای مدیریت پایدار جنگلهای شمال ایران. ناقوس. ۱۳۹٦.
علیپور. ع. جعفرآبادی،ح. جباری،ح. بررسی روند جهانی شدن فرهنگی و تاثیر آن بر هویت ملي و قومی کردها از دیدگاه دانشجویان تحصیلات تکمیلی دانشگاه استان کردستان. فصلنامه علمی - پژوهشی نگرش های نو در جغرافیایي انساني، سال هشتم. شماره چهارم، پاییز ۱۳۹۵.
ګودرزوند چګینی، مهرداد. توسعه پایدار؛ شاخص ها و سیاست. فصلنامه سیاست جهانی، دوره چهارم، شماره ۲، تابستان، ۱۳۹۴.
Ngara,C. Ogbji,A. the G8 and development in the third world countries in the 21st century.
Levy,B. Fukuyama. Development Strategies. The World Bank. January 2010
Szirmai,A. the dynamics - Economic Development.

# پښتون ژغورنې غورځنګ د اېين په لومه کې



فیض محمد ځلاند

د نړۍ هېڅ ولسي حرکت د خپل حکومتي نظام د ايين په اډانه کې نه دی بريالی شوی يا تر سره شوی. کله چې نيلسن منډېلا د اپرتايډ (توکم‌پالنې) خلاف غږ پورته کړ. هغه د سويلي افريقا د اساسي قانون خلاف حرکت و. له همدې امله په هغه مرګوني بريدونه وشول، ګڼو ملګريو يې ژوند له لاسه ورکړ. منډېلا هيله او ژمنتوب د خپل هدف د تر لاسه کولو لپاره له لاسه ورنکړل، بلکې لا يې پياوړی کړ.

سره له دې چې يو وخت تاوتريخوالي ته مخه کوي، خو تر پايه يې د ولسي مبارزې، د لس زره ورځو بنديخانې تر ځنګ خپلې موخې ته ورسېد.

بل لور ته د مارټين لوټر کينګ مبارزه ده. دده د مبارزې پيل، د امريکا د اساسي قانون خلاف غږ پورته کول ول، په کوم قانون کې چې تور پوستو ته د دويم نسل په سترګه کتل کېدل. تور پوستو ته د رايې اچونې، انتخاب کېدلو او د لومړنيو انساني حقونو اسانتياوې نه وې پکې يادې شو. د هغه قانون خلاف يې غږ پورته کړ، لسيزې وروسته حسين براک اوباما د امريکا لومړنی تور پوستی ولسمشر انتخاب شو. دا د لوتر کينګ د مبارزې رنګ و.

لوی پښتون باچا، فخر افغان باچا خان هم د انګرېز د ايين خلاف د پښتنو د حق غوښتنې مبارزه کوله. د انګرېز له ماتېدو سره يو ځای يې د پنجاب خلاف خپلې مبارزې ته د مرګ تر ورځې ادامه ورکړه. حتی د پاکستان د ايين خلاف يې د خپل جسد د خښولو لپاره جلال آباد، ښکلی ننګرهار انتخاب کړ، چې د لوی افغانستان، د پښتنو د خپلواکۍ هيلې ژوندۍ پاتې شي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ پيل ته همداسې تمې موجودې وې، چې دا به د پنجاب د بربريت خلاف د پښتون ولس غږ پورته کوي، خو په هره غونډه کې پښتانه مبارزين د پاکستان د ايين مطابق د حق غوښتنې چيغه پورته کوي، کوم ايين؟ هغه چې له انګرېز څخه پنجاب ته په ميراث پاتې دی. هغه چې د فارورډ پاليسۍ (Forward Policy) په حيله د افغان- پښتون وجود او نقشه تر خپلې خېټې لاندې راولي. په کوم آيين کې چې پښتون ته د پاکستان د دويم نسل په سترګه کتل کېږي. چېرته چې راؤ انور ته د قهرمان لقب ورکول کېږي او طاهر داوړ په ډېره ظالمانه توګه وژل کېږي.

د ولسي مبارزې اساس او بنياد د ولس په ملاتړ، د ولس د حق غوښتنې په ځواکمنې مبارزې او په لويه کې د ولسونو د خوځښت په اډانه را څرخي، نه د قانون په ملاتړ، نه د قانون په پلي کېدو.

قانون د زور و، د پنجاب لپاره د غنې د جال حيثيت لري، چې هر وخت يې څېرلی، بدلولی شي.

تاسې د پاکستان په تاريخ کې وګورئ چې کله هم د پنجاب ګټې په تاوان کې لوېدلې، د قانون خلاف پکې مارشالاً راغلي. د قانون خلاف په لومړي وزير، حکومت چپه شوی، د قانون خلاف پکې خلک په دار شوي، د قانون خلاف پکې پښتانه په نښه شوي، وژل شوي، ترورل شوي، وېرول شوي او ځپل شوي دي.

له دې امله ملګرو ته پکار ده چې د پاکستان د ايين پر ځای د ملګرو ملتونو د انساني حقونو د منشور له مخې د پښتون انسان د ژوند د خونديتوب مبارزه وکړي. مبارزه په وېره، دار او پټه نه کېږي. په دې پړاو کې به ځوانان سرونه شيندي، مينډې به بورې کېږي، پېغلې به د ملالۍ ټپې وايي، خو دا مزل به تر منزله رسي. د پنجاب بربريت او وحشت به ماتېږي، د پښتون په کور به د ازادۍ لمر را خېژي.

له دې امله، د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګريو ته پکار ده، ورو ورو د بغاوت، د انساني حقونو د تر لاسه کولو، د د بشري ژوند خپلولو په پار ځينو داسې مبارزو ته مخه کړې چې د پنجاب د فارورډ پاليسي پرې ونڼګوي. د پنجاب د پوځ جرړې پرې د پښتنو له سيمې وباسي، د پښتون انسان وجود او ژوند پرې وژغوري.

په دې وروستيو کې له عوامي نيشنل ګوند څخه د بُشرا ګوهر او افراسياب خټک د وتلو دسيسه د همدې ناقانونيت (د پښتون وژنې او ځورونې) ادامه ده چې په ډېره سپين سترګی عملي شوه، خو اوس د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګريو ته پکار ده، په دې دواړو مشرانو ننګ وکړي، د افراسياب خټک صيب له لسګونو کلونو سياسي تجربې څخه په ګټه اخيستنې د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرتوب ته مخه کړي، دا غورځنګ په سياسي- ولسي مبارزه بدل کړي، ددې غورځنګ د بغاوت داسې بريدونه وټاکي چې د پنجاب د هر ظلم حساب کتاب وکړي.

د نړيوال ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره په نړيواله کچه (د ملګرو ملتونو، د امنيت شورا، د اروپايي اتحاديې، د اسلامي کانفرانس...) په کچه د خپل شناخت تابيا ونيسي. مونږ يې نه يواځې ملاتړ ته په ډګر ولاړ يو، بلکې غواړو د پښتون ژغورنې غورځنګ د لوی افغانستان د ارمان د پوره کولو وسيله وګرځي.

د همدې غږ او چيغې له لارې پښتانه يو موټی کړي، د پنجاب له قبضې څخه پښتون خلاص کړي او په نړۍ کې د نورو انسانانو په څېر پښتون انسان هم د سيالۍ ژوند وکړي. هيله ده، د پښتون ژغورنې غورځنګ ملګري د پورته ذکر شويو اندېښنو په اړه ژور فکر وکړي، که اړتيا ليدل کېدله مونږ به ورسره د سياسي مانيفېسټ په را منځته کولو، د سياسي مبارزې د ليدلورې په ټاکلو او د ولسي مبارزې د پياوړتيا او پراختيا په برخه کې د هر ډول مرستې تېر ووهو.

د ګران، ازاد لوی افغانستان په هيله!



# د فاسدېدو خبرتیا!

حفیظ الله تراب

که په وړوکوالي کې به رانه په تېروتنه کې کومه تېروتنه وشوه، نو په مياشتو مياشتو څه، چې ان تر اوسه هم بړېښنايي ټکانونه راکوي. زه ځان ملايکه نه ګڼم، خو دوه کاره مې تر اوسه لا نه وو کړي، غلا او دروغ ويل. چې زلمی شوم، نو دا دوه خويونه يا صفتونه خو راکې نور هم غښتلي او سپېڅلي شول او دپاسه پر وعده کلکه وفا کول پرې لا بل سرباری شو. د دغو درې صفتونو له برکته مې ډېرې نادودې وګاللې، ډېر محروميتونه او کړاوونه مې وګالل، خو تر پايه خپلو دې دريو ملګرو يوازې پرېنښودم. پايله يې دا شوه، چې ښه ورځ خو مې ونه ليده، لا دپاسه پرې په يوه ساده او حتا ناپوه انسان هم مشهور شوم.

د خلکو قضاوت پر ځای و. د منافقت، چل، چاپلوسۍ او حراميتوبونو په دې تور دنډ کې بايد ما هم له ځانه يو ناولی چنجی جوړ کړی وای او دا ځکه، چې د ژوندي پاتې کېدو لپاره د چاپېريال سره په طبعي توګه ځان برابرول، د هوښيارانو کار دی.

زه به هغو خلکو ته هم حيران شوم، چې د پوره ډېرناتوب، ناپوهۍ او بې حسۍ سره سره د لويو دندو خاوندان شول. د هغوی نا اشنا جرات به هم هيښ کړم، هغوی نه دا چې ستر ستر چارواکي شول، بلکې پر خپلو دندو سربېره، داسې ټېکه داران هم شول، چې په رڼا ورځ به د خلکو په سترګو کې ننوتل او د دوی به رې هم پرې نه واهه. په هر ترتيب، د بېوزلو غم، د چارواکيو او نا اهلو نادودو نور داسې کړم، چې هره ساه مې په يوه اه بدله شوه. کور کې يې راته وويل، چې اشنا د ژوند تېرول په آهونو نه کېږي. دلته پسات داسې يوې مرحلې ته رسېدلی دی، چې کوونکی يې خلکو ته تر ټولو پرهېزګار انسان ښکاري. ښه سړيتوب نور په توپ ووله، نور بايد د زمانې له څرخ سره تاو شې.

خبره سمه څه چې د کاڼې کرښه وه، خو چې هر څومره فکر مې وکړ، د ړندو په دې بازار کې د دره وال لوټ نه هم راته ځان کم ارزښته او ناچله ځکه ښکاره شو، چې ما د دې کار وړتيا نه لرله. له ځانه سره مې وويل، ښه دا پرېکړه به وکړې، خو دروغ، غلا او د نن وخت مشروع منافقتونه خو ډېره سخته زړورتيا غواړي، دا به له کومه کړې؟! په همدې فکر کې ناست وم، چې ملګري مې راته زنګ وواهه، هغه راته داسې خبرې وکړې، لکه له هر څه چې خبر وي. په پای کې يې راته وويل:

سبا دفتر ته راشه، ما هم داسې پرېکړه کړې، چې له دې وروسته بايد، لوی غل، هېواد پلورونکی، دوکه باز، دروغجن او يو لوی منافق شم. راشه، چې په شريکه يوه پرېکړه وکړو، لسيزې لسيزې مو مقاومت وکړ، خو دلته يوازې د غله زامن کولای شي، چې يو څه په ارامه ژوند وکړي. ورته ومې ويل، چې هر څومره زړه راټول کړم، قسم په خدای که مې دا خپل دښمن وجدان د پستۍ، چاپلوسۍ او دروغو اجازه راکوي، دا به څنګه شي؟!

ويې ويل:

- خدای مهربانه دی، زه هم ستا غوندې يم، د وجدان د وژلو لپاره به له کوم مشهور کس نه مرسته وغواړو، خدای مهربانه دی کېدای شي، چې يو څو ورځو کې بې وجدانه شو.

د ملګري خبره مې خوښه شوه، ورته ومې ويل:

- موږ ته يو څو ورځې بايد د بې غيرتۍ ورکشاپ راکړل شي، ګڼې زه په اوله ورځ په دې کار کې راګېرېږم. ويې ويل:

- سمه ده، خدای پاک وايي ته حرکت کوه، زه برکت کوم.

د ملګري خبره مې ومنله، خو په اخره کې مې له ځانه سره وويل:

- راځه په خپل دغه نوي کار خو خلک خبر کړه، په پټه راته د ناولو کارونو کول يو ډول ناځواني ښکاره شوه، ځکه مې نو د يوې خبرتيا په ترڅ کې ټولو ته وويل:

- ملګرو او دوستانو! زه نور فاسد کېږم او دا ځکه، چې پرته له پساته په دې خاوره کې ژوند کول د سکروټو د نينو چيچل او په خپل ځان او نيمګړي ژوند پوري خندا ده. خو بويه که په دې ازموينه کې بريالی شم!!!

# د افغان سترې لوبې دويم پړاو

وسعت الله خان

**دا ليکنه په پاکستانی ايکسپرېس ورځپاڼه کې خپره شوې او د اوربند اداري پدې پار را ژباړلې چې د پاکستاني Establishment له نويو عزايمو مو خبر کاندو...**

د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي کابل ته ځي، چې د امريکايي ولسمشر ټرمپ په غوښتنه، افغانستان کې د سولې په راوستلو کې خپل فعال رول ولوبوي.

له تېرې مياشتې راهيسې، يو اړخ ته امريکا او طالبانو د يو بل پر ضد جګړې ته زور ورکړی دی او بل اړخ ته سفارتي هلې ځلې هم ډېرې چټکې شوې دي. د امريکا ځانګړي استازي خليلزاد په قطر کې طالبانو سره وليدل او په اسلام آباد کې يې له پاکستاني چارواکيو سره له خبرو اترو وړاندې د افغان ولسمشر اشرف غني هم باوري کړ. بل خوا طالبانو د مسکو په سيمه‌ييز کانفرانس کې په لومړي ځل ښه په ښکاره ګډون وکړ، خو د افغان دولت د رسمي هيئت پر ځای د سولې شورا غړي د غير رسمي ګډون په نوم غونډې ته ور وليږل.

چين هم له طالبانو، کابل او اسلام آباد سره په تماس کې دی. چين د «يوې لارې او يو کمربند» او د اقتصادي دهلېز په خاطر د پاکستان په غربي پوله او له منځنۍ آسيا سره د افغانستان په شمالي پوله د سولې او ارامۍ لېوال دی. هند هم خپلې ستراتېژيکې ګټې د امريکا په خوښه په افغانستان کې خوندي کول غواړي او له افغان دولت سره يې اړيکې ټينګ دي. ا مريکا د هند، افغانستان او پاکستان په ګټو کې د توازن په اړه خپل زيار باسي.

که له واشنګټنه د افغانستان لانجې ته وکتل شي، نو داسې ښکاري چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ورو ورو له افغان کمپلې نه ځان خلاصول غواړي، خو سپينه ماڼۍ د بهرنيو چارو د وزارت پر ځای د برحالو او متقاعدو جنرالانو خبرو ته ډېر ارزښت ورکوي. همدا لامل دی چې ټرمپ او امريکايي چارواکي په ښکاره خو د افغانانو تر منځ د خبرو اترو زمينه جوړوي او له طالبانو سره هم اړيکې ساتي، خو پټ په پټه په افغانستان کې سوله او امن غواړي. بله خبره دا ده چې د حالاتو جبر د ټرمپ دولت دې منلو ته مجبور کړی دی چې د پاکستان له خوښې او ګډون پرته د افغانستان د شخړې تلپاتې حل‌لاره نشته، ځکه خو د پوځي مقاماتو پر ځای سفارتي مقامات له پاکستانه د څه کولو هيله لري. په دې شاليد کې غواړم واشنګټن پوسټ سره د پاکستان د صدر اعظم عمران

خان مرکه او د امریکا د سنا جرگه‌گۍ پر وړاندې د لوی درستیز جنرال کیټمنو میکنزي وینا یو ځای کړم.
عمران خان له واشنگټن پوسټ سره د مرکې په وخت د پاکستان د دولتي او پوځي مشرانو دا نوی، خو بیا بیا تکرار شوی نظر وړاندې کړ، چې زموږ وطن به نور پردی جگړې په غاړه نه اخلي.
ده وویل، پاکستان نور نه غواړي له امریکا سره داسې اړیکې وساتي، لکه یو سرتېری چې د پیسو په بدل کې د چا لپاره وجنگېږي. ده زیاته کړه، پاکستان غواړي له امریکا سره هم د چین غوندې د برابرۍ په سویه تجارتي اړیکې ولري (دا هم د بحث وړ ده چې پاکستان له کوم هېواد سره د برابرۍ پر بنسټ اړیکې لري).
امریکایي جنرال میکنزي د سنا د اردو په اړه جوړه شوې جرگه‌گۍ ته وویل، د طالبانو شمېر تر شپېتو زرو پورې دی او په افغانستان کې د ناټو د سرتېرو شمېر شپاړس زره دی. د افغانستان ملي اردو ته اوښتې مرگ ژوبله د اوږدې مودې لپاره د زغم وړ نه ده، ځکه د امن او سولې لار لټول اړین دي- د جنرال میکنزي د وینا تر مخه پاکستان پوهېږي چې دوی له مرستې پرته افغانستان کې سوله نشي راوستلی، خو د پاکستان د مرستې لپاره امریکا باید «یو زړه راښکونکی» وړاندیز ولري.
ددې مانا دا شوه چې پاکستان د چین په ډاډ اوس له امریکا سره ښه سودا کول غواړي او د تېر په څېر تش د څو نوټونو (ډالرو) په لیدو کار کولو ته چمتو نه دی. پاکستان غواړي د افغانستان له سولې نه پس د هند په پرتله خپلې سیمه‌ییزې گټې خوندي کړي.
آیا امریکا رښتیا له افغانستانه وتل غواړي؟
زما په اند په نږدې راتلونکي کې دا امکان نه لري. دا وخت په منځنۍ او سوېلي آسیا کې افغانستان یوازنی هېواد دی چېرته چې د امریکا عسکر په ښکاره حضور لري. که امریکایي عسکر له افغانستانه ووځي نو په ټوله سیمه کې -پرته له خلیجه- به د امریکا یوه پوځي هډه هم پاتې نشي.
د افغانستان موقعیت داسې دی چې که دا هېواد د یوې الوتکې په څېر وکتل شي نو په رادار یې په یو وخت روس، چین، پاکستان او ایران لیدل کېدای شي.
دا د چین او روس نرمه خېټه ده او ایران غوندې یو هېواد د امریکا تر فشار لاندې ساتلو لپاره له خلیج سره سره افغانستان یو بې جوړې موقعیت دی.
که افغان ملي اردو په راتلونکي وخت کې هم د امریکا د گټو ساتلو ته تیاره شي، نو امریکا دومره کم عقله نه ده چې د مرگ ژوبلې له وېرې له افغانستان نه لاس په سر شي او ټوله سیمه روس، چین او د هغوی سیمه‌ییزو ملگریو ته پرېږدي.
افغان عسکر هسې هم د امریکایي پوځ او طالبانو تر منځ د دېوال کار ورکوي. په دې اړه د امریکا د اردو تر ټولو مشر جنرال او د جنرالانو د کمېټې سرلاري جنرال جوزف ډنفرډ له واشنگټن پوسټ سره کړې مرکه د تأمل او ژور فکر وړ ده.
جنرال ډنفرډ وایي، امریکا باید هېڅکله په بشپړه توگه د افغانستان د پرېښودو فکر ونکړي، ځکه دا به بیا په افغانستان کې اورپکو ته د ځای پر ځای کېدن زمینه برابره کړي او د یوولسم سپټمبر په شان نورو پېښو ته به لار هواره کړي.
جنرال ډنفرډ داسې انگېرې چې په جبوتي او پاکستان کې د چین د بحري ځواک شتون د امریکا پوځي زور ته خطر دی. د چین ولسمشر ژي پنگ هم تېر کال ویلي وو، چین یو داسې نړیوال ځواک جوړول غواړي چې د نړۍ هر گوټ او په خاصه توگه د خپلې خوښې سیمو ته ستراتېژیک لاسرسی ولري.
که زه د جنرال ډنفرډ بیانیه په یوه کرښه کې را ونغاړم، نو ویلی شم:
**«امریکا په افغانستان کې داسې سوله غواړي چې په راتلونکي وخت کې یې ستراتېژیک شتون اغېزمن نه کړي».**

# د جنگي جنایتکارانو اتهام‌نامه؛
# قضايي شننه




قضاوتپوه محمد سلیمان

د جنگي جنایتکارانو په اتهامنامه کې د مسوول مدعی العموم د وجدان په حکم، بشري احساس او د قانون په رڼا کې د دردېدلي او کړېدلي ولس دردونه په پوره دلایلو سره چې د زړه نه را خوټېږي د قضا لوړ مقام ته وړاندې کړي ده.
د تجربې او مسلک د ښې وړتیا پر بنا، لاندې ټکیو ته د هر حقوقپوه پام را گرځي او د دعوا د جرم او مجرم په هکله یې پوره قانوني مواد را ټول کړي دي، لکه:
۱- جرمي وصف او د جرم تثبیت
۲- د الزام کافي دلایل را ټولول
۳- د جنگي جنایتکارانو لپاره پیشبیني شوې سزا غوښتل.
دا د دعوا برا زنده گي، عدالت او انصاف ښيي. د جزا کود ۷۳مه ماده هم چې د جنایتکارانو څرگند ډول تعدد او تکراري مجرمین دي، ورته اشاره شوې ده او د همدې قانون ۵۷ او ۵۸مه ماده په پام کې نیول شوې ده او د اتهامنامې عنوانونه لکه گناه مقدس، بی کفنان، بی جرمه مجرمین، یا وطنفروشان قرن بیست، په زړه پورې او زړه بوږنوونکي عنوانونه دي او هر جنایت ته بېله بېله شرحه ورکړل شوې ده، چې زه هم دلته لنډه اشاره ورته کوم؛ لکه:
**۱- جاسوسي** هغه جرم دی چې د ولس یا دولت مهم اسرار د پردیو په واک کې ږدي؛ د کود جزا ۲۴۰مه ماده کې ابد حبس پیشبیني شوی دی؛ تور په نور محمد تره‌کي، حفیظ الله امین او ببرک کارمل باندې په مستند ډول ارایه شوی دی او د پورتنی اتهامنامې په ۱۷ مخ کې د گوند په نورو غړیو هم دا تور لگېدلی دی.
**۲- ملي خیانت** هغه جنایت دی چې د هېواد خپلواکي او ملي حاکمیت په خطر کې اچوي او د عادي جرایمو خلاف لکه: وژنې او غلا، ضرر یې یو شخص یا څو تنو ته نه، بلکې عام ولس ته رسېږي؛ په دې اتهامنامې کې په تفصیل مرتکبین را په گوته شوي دي او د جزا د کوډ په ۲۳۸مه ماده کې دویمه درجه حبس دوام ورته سزا ټاکل شوې ده او د همدې مادې په اوومه فقره کې وسله‌وال ځواک، مسلحانه پاڅون هم ملي خیانت تعریف شوی دی، چې دغه د غوایي د اوومې مرتکبینو ته اشاره شوې ده او یا هغه جرم چې د ((دنننی انگېزې)) پر بنا او یا د اجتماعي موقف د تعصباتو په سبب او یا د جلا اندیشه په گناه او تور مجازات شي، مرتکبین یې د کود جزا په ۲۱۸مه ماده کې لومړۍ فقره او ۸مه فقره کې د سزا پیشبیني راغلې ده؛ چې دا یو ملي او جنگي خیانت دی.
**۳- جنگي جنایات** هغه کسانو چې د ببرک په ملگرتیا یې د مرغومي د شپږمې د سرو لښکرو د یرغل زمینه برابره او نورو گوندي چارواکیو هم ورسره لاس یو کړ، دا ملي خیانت له قانون سره سم باید مجازات شي؛ چې د کړاو، بدبختۍ، وژنې او خرابي سبب وگرځېد، چې تر اوسه دوام لري او د جنگي جنایاتو د کود جزا په ۱۷۰یمه ماده کې اعدام ورته پیشبیني شوی دی.
د جزا کود ۳۳۹مه ماده کې د بین الملل د حقوقو نه په هدایت، هغه کسان چې له جنگ نه لاس پر سر او تسلیم شوي دي، سزا ورکول او مجازات یو جنگي جنایت دی.



کله چې د هرات د ۲۴ حوت پاڅون مات او تسلیم شو، بیا هم ډاکتر نجیب د ببرک په هدایت وژلو ته دوام ورکړ، چې تفصیل یې په اتهامنامه کې راغلی دی او دې یرغل د هېواد خپلواکي او ملي حاکمیت په زغرده تر پوښتنې لاندې راووست.
**۴- د گوندیانو لخوا جنسي تېری** یو بل جنگي جنایت دی؛ چې ورځنۍ دود و چې د کود جزا په ۳۳۹مه ماده، ۲۲مه فقره کې د اعدام سزا ورته ټاکل شوې ده. د جنسي تېري په واسطه اجباري حامله‌گي هم منځته راتلله، چې داسې تېری به اکثراً په ډله‌ییزه توگه عملي کېده. همدا ډول هغه ښځې یا نجونې چې د جنسي تېري په نتیجه کې حامله شوې دي او په اخر کې پر هغه ناز وکړي او بې دفاع ماشوم به هم ترحم نه درلود چې په غیر علمي ډول به سقط جنین او د مور په نس کې له ژوند نه محروم کېده او مور به په سخته ناروغۍ اخته شوه چې ددې جنایت په اړه د جزا کود په ۳۳۵مه ماده کې شرحه ورکړل شوې ده.
داجنایتکاران هم باید د نړۍ د نورو جنایتکارانو لکه د یوگوسلاویا، کمبوډیا او داسې نورو په څېر مجازات شي؛ لکه چې څو ورځې وړاندې د کمبوډیا د خمر سرخ پخوانی ولسمشر (خیوشمنان) او د چریکانو لوی مشر (نون چیا) څو کاله وروسته ونیول شول او د ملگرو ملتونو د ځانگړې محکمې لخوا د بشري جنایاتو په عمري بند محکوم شول. (هېواد ورځپاڼه، د لړم ۲۷مه، ۹۷ کال).
**۵- شکنجه** د ۱۹۸۳ کال د نړیوال میثاق چې د شکنجې او تعذیب د ممانعت په هکله د نړیوالو لخوا را وتلی و، مگر د خلق ډیموکراتیک گوندیانو لخوا په زغرده تر پښو لاندې شو او غیر انساني سلوک، رنج او درد واردول چې د کود جزا د ۳۳۱مې مادې په لومړۍ او دویمه فقره کې جنگي جنایت بلل شوی دی او په ۳۳۸مه ماده کې تر اعدام پورې سزا ورته ټاکل شوې ده؛ چې اکثراً به د اقرار اخیستلو لپاره عملي کېده.
رنگین دادفر سپنتا هم د خپل کتاب (سیاست افغانستان؛ روایتی از درون) په ۵۷ او ٦۸ مخونو کې غیر قانوني توقیفیاني او د زندانیانو شکنجې، ازار او د غوایي له کودتا وروسته وژنې راوړې دي. زه هم دلته د اتهامنامې د شکنجې ډولونه را نقلوم.
۱- وهل- ټکول.
۲- بې خوبي.
۳- دېوال ته ساعتونو درول.
۴- یخ ته درول؛ یخې اوبه پرې پاشل.
۵- بې عزته کول او لوڅول.
٦- خپه کول.
۷- نوکان ترې اېستل.
۸- تر نوکانو لاندې ستنې ور چوخول.
۹- تود او گرم اوتو پر گېډه یا شا پورې ور نیول.
۱۰- پر څرخې چوکۍ کښول او چرخ ورکول، چې دا به گوندیانو ((دور فیل)) بلل.
۱۱- توهین او ښکنځل.
۱۲- پر تنکیو ځوانانو او مېرمنو جنسي تېري کول.
۱۳- د اقرار په منظور د هغو ځوانانو -چې د ناموس د دفاع په خاطر نیول شوي ول- بې ناموسي کول.
۱۴- په مقعد کې د بوتل دننه کول.
۱۵- د اقرار د لاسته راوړلو په خاطر د کورنۍ پر غړیو، لکه خور، مور، لور او ښځو باندې دده په مخ کې جنسي تېری کول.
۱٦- په اعدام د محکوم تر اعدام وړاندې وینه چوشول او اېستل.
۱۷- په اعدام محکومو کسانو باندې ملنډې وهل؛ په موټر پورې تړل، نښه ویشتل پرې زده کول او یا بزکشي پرې کول.
۱۸- برقي شاکونه (شارټونه) چې برقي الې به یې د بدن په حساس ځای لکه تناسلي الې، د غوږونو په نرمۍ او یا د پوزې تر منځ دیوال تړل؛ د تحقیق مافیایي ډلې به دا ((دیمیتري)) بلل.
۱۹- خُصیه (هگۍ) ترې کښول یا په لاس کې تر سخت فشار لاندې نیول.
۲۰- په یوه کوټه کې زیات کسان اچول، چې ارام خوب او ارام ونه لري.
۲۱- د رفع قضای حاجت محدود امکانات؛ ان د ډېر ضرورت وخت کې به ددې حاجت د رفع کولو لپاره د پلاستیک یا د خوړو له کاسې نه گټه پورته کول.
۲۲- د اعدام د حکم تنفیذ په عذاب پرې تېرول؛ لکه چې محمد اکرام اندېشمند د خپل کتاب (حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان) په نامه ۱٦۵ مخ کې د جنرال محمد تاریف سر سلاکار له خولې راوړی دی، چې نجیب ماجرا جو او سرکوبگر و. د همدې کتاب په ۳٦۴ مخ کې هم د ډاکتر نجیب لخوا د ډاکتر عبدالرحمن څرک په سوکانو او لغتو وهل، چې بیا ناروغه او ساه یې ورکړه.
اندېشمند لا د خپل کتاب ۵۱۵ مخ دا جنگي جنایات ارتکاب د شوروي د سلاکارانو په هدایت بولي، چې ان ډېر اسیران بې له محاکمې اعدامېدل.
شکنجې د اجراآتو د قانون د ۲۲مې مادې او د اساسي قانون له ۲۹مې مادې سره په مغایرت کې دي چې په اتهامنامه کې (کتاب) ورته په څرگند ډول گوته نیول شوې ده او د ((ح. د. خ. ا)) شوروي اتحاد ته هم د بدنامۍ او بدبختۍ او بالاخره یې د تجزیې سبب وگرځېدو او د نړۍ سیاسي او نظامي موازنه یې یو قطبي ته واړوله.
په اتهامنامه کتاب کې مادي او معنوي عناصر پوره په گوته شوي دي، چې د هر یوه هویت تثبیت شوی دی. د عدالت او انصاف پر بنا د قانون په چوکاټ کې د قضا د لوړ مقام لپاره یې د پرېکړې لار په ډېره اسانۍ همواره کړې ده، چې خپله پرېکړه یې له ابهام او تردید نه پاکه اعلام کړي او د قضا خپلواکي، اساسي قانون ۱۱٦ مادې پر بنا ثابته کړي او د نړیوالو عدلي موسساتو لکه د نړیوال جزایي دیوان مرسته را جلب کړي. دا هم باید زیاته شي چې قضا پخپله فیصله کې تبعي مجازاتو سره سم د ۱۷۱یمې مادې له مخې او تکمیلي مجازات د۱۷۰ مادې هم په نظر کې ولري. د ټولو سیاسي، مدني او اجتماعي فعالیتونه مخنیوی یې وشي. په اخر کې د عدالت او قانونیت په هیله!
ومن الله التوفیق

## د ژوند وړې لارښوونې

جاکسون براون ژ/ سپین سهار

٦۱ – په ښکلیو او ځلېدونکیو رستورانتونو کې له ډوډۍ خوړلو ډډه وکړه؛
٦۲ – پخوانیو ټولگیوالو ته دې مېلمستیاوې وکړه؛
٦۳ – مه پرېږده څوک دې لوېدلی پرځېدلی وویني؛
٦۴ – هر وخت هرومرو مخې ته څه ښکلي ږده، لکه یو ښکلی گل؛
٦۵ – لوړ فکرونه کوه، خو له وړو خوښیو هم زښته ډېر خوند اخله؛
٦٦ – مالیاتي راپورونه لوستل زده کړه...!
٦۷ – هر وخت دې اولادونه وستایه، ورته ووایه چې زښت ډېر باور پرې لرې؛
٦۸ – پر زېږ ورځ دې خپل ځان ته د مبارکۍ یو پیغام ولیکه؛
٦۹ – گېر موټر زده کړه؛
۷۰ – د هېچا د گروهې (عقیدې) یا بل سپېڅلي څه سپکاوی مکوه؛
۷۱ – د سیمه ییزو ونو بوټیو او الوتونکیو په اړه معلومات تر لاسه کړه؛
۷۲ – په موټر او پخلنځي کې هر وخت د اور وژنې کپسول ولره؛
۷۳ – وصیتنامه دې ولیکه؛
۷۴ – دروازې ته چوفتۍ او کیلي والا قلف ولگوه؛
۷۵ – د سړک غاړې تاریخي ډبرلیکونه او لوحې ولوله؛
۷٦ – که چا د کومې مهمې پېښې کیسه کوله، ته پکې مه ور لوېږه، خپله کیسه مکوه، میدان هغه ته پرېږده؛
۷۷ – گړۍ (ساعت) دې پینځه دقیقې مخکې کړه؛
۷۸ – چې غواړې یو کار پیل کړې، د تش لاس اندېښنه مکوه؛
۷۹ – انگلیسي زده کړه، ځکه څو کاله وروسته به ډېر خلک په انگلیسي پوهېږي؛
۸۰ – په موټر او د خوب تر تخت لاندې هر وخت لاسي گروپ او اضافي بېټرۍ کېږده؛
۸۱ – په کوم بانک کې چې حساب لرې، مدیر ته یې ځان ور و پېژنه، شخصي ملگرتیا به یې گټه در ورسوي؛
۸۲ – د ماښامنۍ خوړلو پر مهال ټلوېزیون بند کړه؛
۸۳ – که له اولادونو سره دې لوبه کوله، ورته ویې بایله؛
۸۴ – د وسلې سم کارول زده کړه!
۸۵ – په اونۍ کې له یو وخت ډوډۍ خوړلو تېر شه، لگښت یې چا بېوزله ته ورکړه؛
۸٦ – موسیقي زده کړه؛
۸۷ – یو وکیل، په مالي چارو یو پوه تن او یو تکړه نلدوان ملگری کړه؛
۸۸ – وصیتنامه ولره او د اېښودلو ځای یې خپلو خپلوانو ته وښیه؛
۸۹ – سرهٔ گلان بویوه؛
۹۰ – په موټر کې کمربند تړه؛
۹۱ – سخت اوسه، خو زړه نرم لره؛
۹۲ – روغتیایي معاینات کوه، د غاښونو ډاکتر ته ورځه؛
۹۳ – د کار چاپېریال او مېز دې پاک لره؛
۹۴ – وخت پېژندونکی اوسه او پر نورو یې هم د پېژندنې تینگار لره؛
۹۵ – د نیوکې پر دفاع وخت مه ضایع کوه؛
۹٦ – له منفي مزاجه خلکو لرې گرځه؛
۹۷ – شریف او باتربیه اوسه؛
۹۸ – نورو ته مه وایه چې کارونه څه وړ وکړي، ورته ووایه، څه باید وکړي، هغوی به داسې حللاره ورته پیدا کړي چې حیران به دې کړي؛
۹۹ – له حده زیاتې مهربانۍ نه ډډه کوه؛

# تـــازه خبر

**جبران جبرايلي**

زمـا يـو نـږدې ملګـرى چـې نـوى نـوى پـه جـوارۍ راغلـى، هـر وخـت يـې د ګټـې نـه تـاوان ډېـر وي، خـو پرونـۍ خـبرې يـې بدلـې وې. راتـه يـې وويـل، دا ځـل مـې د جـوارۍ پـه پـړ کـې درنـې روپـۍ ګټلـې او دا ځـل پـرې يـوه بلـه لوبـه کـوم. غـوږ شـه د دنيـا يـو مارشـال هـم نـه ځـان سره بلنـد منزلونـه ګـور تـه وړي او نـه روپـۍ. زه دا روپـۍ لـه سره ځـاروم او کـه د جمهـوري رياسـت د مقـام د ګټلـو لاره او راز دې راتـه وښـوده نـو تـا هـم نـازوم.

مـا چـې دا يـار پـه دې حالـت کـې وليـد، زړه مـې ويـل چـې ماموتـه بيـا دې موتـه. همـدا يـې ځـاى دى، د سرو زرو دا مرغـۍ پـه يـو قيمـت هـم لـه ګوتـو ونـه باسـې او داسـې کانديـد خـو پـه نصيبونـو پيـدا کېـږي، د همـدې يـار پـه خاطـر د نسـخې برابرولـو لپـاره پـه ياداشـتونو بوخـت شـوم، ناڅاپـه مـې يـو دېـرش کلـن او دوه شـل کلنـو ياداشـتونو سـترګې ولګېـدې. د روسـانو لـه وتلـو وروسـته د ښـاغلي صديـق مومنـد پـه وسـاطت مـې ډاکـتر نجيـب اللـه سره د ملاقـات او خـبرو زمينـه مسـاعده شـوه. د جهـاد مدعيانـو دا ملاقـات ګنـاهِ کبيـره ګڼلـو. زه د ګنـاهِ کبيـره پـه کولـو بريالـى نشـوم او پاسـپورټ مـې پـه بکـس کـې زوړ شـو. اوس وايـم چـې کاش دا کبيـره ګنـاه مـې کـړې واى.

پـه پېښـور کـې مـو د محمـود ميسـتيرى د راتـګ پـه خاطـر شريکـه ايجنـډا جـوړه کـړه، چـې دا ځـل بـه رانـه دربـاري دبـره مـاران او زاړه بامبـړان نـه غړېـږي. هماغـه وه چـې محمـود ميسـتيري رانـه پـه هـوا تېـر کـړى شـو، د خولـې مـې پـه خولـه او د زړه مـې پـه زړه پاتـې شـوه. خـداى ښـلي رسـول اميـن راتـه وويـل، لوبـه راسره وشـوه. د محـترم سـيد اسـحاق ګيـلاني پـه کـور کـې مـې لـه فرانسـس وينډرل سره دوه نيـم سـاعته اوږد ملاقـات وشـو، هغـه راتـه پـه ۵۲ پاڼـو کـې، يـوه پاڼـه را وښـوده ويـې ويـل، افغانـان دې د مشرقـي تيمـور پـه څېـر د يـوه چانـس او حادثـې انتظـار وبـاسي. مـا چـې د حادثـې نـوم واورېـد نـو د افغانسـتان زړه کابـل او د خـادم صيـب رحمـه اللـه پـه قـول د پښـتنو پـه هديـره کـې مـې د وينـو د حمـام يـو نـوى تصويـر مخـې تـه ودرېـد. سـړى چـې د ميخانـې کونجيانـې د خرقـې او چپـن د خاوندانـو پـه غـاړه وګـوري او زاهـدان د سـاقي خانـو محافظـان شي، خليفـه د زمانـې دې هـم د کافـرو پـه اشـارو روان وي او د بـاور کچـه هـم صفـر تـه راښـکته شي، نـو زه مجبـور شـم چـې جوارګـر اشـنا تـه ټولـې لارې ګـودرې ور وښـايم. اُفـف خدايـه! مـا خـو نسـخه تيارولـه چېرتـه لاړم!

درنو لوستونکو!

لـه نسـخې مخکـې پـه کانديـد يـو دوه خـبرې کـوم، پـه کانديـد کـې ډېـرې ګوتـې شـته خـو کـه خـداى ناخواسـته پـه لاټـرۍ کـه را ووځـي مـا بـه لـه ګرېوانـه نـه را نيسـئ! دا کانديـد سـم د بـلا بچـى دى، پـه دروغـو او پښـېمانۍ کـې يـې د عمـران خـان ريکارډونـه مـات کـړي، د پاکسـتان د دوو ګورنرانـو پېښـې هـم کـوي، د سـيند د ګورنـر جـام صـادق پـه څېـر پـه نـره وايـي، شراب څـکل مـې مجبـوري ده او د اسـلم خټـک غونـدې د ډول ډنـګ تـه نـشي ټينګېـداى. د شـيخ رشـيد پـه څېـر واده هـم نـه لـري، هـر وخـت د تـازه پيـو د څکلـو اسرار کـوي. وفـادار شـاګرد حفيـظ اللـه اميـن خـو خپـل اسـتاد تـه يـو بالښـت پـه خولـې ايښـى و او وژلـى يـې و، خـو دده ارادې راتـه خطرناکـې ښـکاري، د قـدرت د نيولـو پـه خاطـر د هېـڅ يـو شي نـه مـخ نـه اړوي. شـکمن چـې د رحـمان ملـک پـه څېـر پـه قـل هواللـه هـم نـه پوهېـږي او ډارېـږم د نصيراللـه بابـر پـه څېـر يـې کوټـه د بټانـو ډکـه نـه وي، خـو يـوه خـبره شـته د ننګرهـار د والي پـه څېـر بـې خـبره هـم نـه دى، چـې ورور يـې قـصر کـې دده لـه زنـې لانـدې مـلي پوليـس پـه کُنداغونـو وهـي او دى بېچـاره پـرې نـه خبرېـږي (بـه ملاحظـه هوشـيار نسـخه تيـار)

۱. ځان به د جهاد او مقامت علمبردار ګڼې!

۲. کـه نرسـنګ دې نـه وي ويلـى، ځـان تـه بـه دوکتـور ليکـې!

۳. د انګليسي ژبې زده کول پکې شرطِ اول دى!

۴. د وېښـتانو اصـلاح پـه خـارج کـې کـوي، ځکـه چـې خارجيانـې پـه فيشـن کـې ماهـرې دي!

۵. په امريکايي موټرو کې بېغمه ګرځه!

٦. باډيګارډان د بلېک واټر ساته!

۷. کـه پـه جهـاد کـې دې يـو ډز هـم نـه وي کـړى، خلکـو تـه د تـورې بـورې او د څټـو کنډو کيسـې کـوه!

۸. د يو بهرني هېواد کلک ملاتړ او له څارګرو ادارو سره راشه درشه ضروري ده!

۹. د مېلمنـو هـرې نـاروا تـه روا ويـل، مثبـت سياسـت دى، دا لار بـه نـه پرېـږدې!

۱۰. پـه يـوه سـترګه کـې خنـدا او بلـه کـې ژړا هـم ددې لوبـې يـوه برخـه ده، پـام ورتـه کـوه!

۱۱. ريـاضي او هندسـه هـم زده کـړه، ځکـه پـه انتخاباتـو کـې د مهندسـۍ اشـد ضرورت پېښـېږي!

۱۲. نيکټايـي او لونګـۍ وهـل زده کـه او پکـول پـه سرول هـم لـه يـاده مـه باسـه، کـه پـه پښـتو نـه پوهېـږې خيـر د کاغـذ لـه مخـې يـې وايـه، دا ملـت هسـې هـم ړونـد و کـوڼ دى!

۱۳. د ښځو د حقوقو ګرمې ګرمې نارې وهه!

۱۴. د اسـلام او مظلـوم ولـس کلمـه ډېـره کاروه، کوشـش کـوه چـې تکيـه کلام دې شي!

۱۵. ولايتونـو تـه سـفرونه ډېـر کـوه خـو يـاران ډېـر مـه سـاته!

۱٦. يـوه ولسـوالي وپالـه، ځکـه د ډېـرو جنرالانـو او ډيپلوماټانـو نـازول ګـران کار دى!

۱۷. خـبردار! د زړه خـبره کلـه هـم پـه خولـه ونکـړې!

۱۸. کـه پـه کابـل کـې چـا د سـوالګرو ښـځو د لښـکرو پوښـتنه کولـه، ځـان تېـروه!

۱۹. د فېسـبوک لپـاره تکـړه باټېمـاران پـکار واچـوه!

۲۰. د ډيموکراسـۍ او د بيـان ازادۍ کوکـې او سـورې وهـه!

۲۱. اشـنا! دلتـه د والي او جـوالي رايـه يـوه ده، دواړو تـه بـه پـه يـوه سـترګه ګـورې!

۲۲. افغانيـت او اسـلاميت تـه بـه پـه درنـه ګـورې، کـه داسـې دې ونکـړل، نـو بيـا دې څـوک خـروار ليټـۍ کـې هـم نـه حسـابوي!

۲۳. د کذابـو مداحانـو يـو ټولـى بايـد ولـرې چـې کلـه ناکلـه درتـه د پيغمـبر خطـاب هـم کـوي!

۲۴. ګـوره زمـوږ پـه ګاونـډ خـو هيجـاړاګان هـم دې پوسـټ تـه ودرېـږي، تـه خـو يـوازې پـه (لښـيريني مشـهور يـې)، بـاک يـې مـه ګڼـه!

۲۵. يـو تکـړه ويانـد هـم بايـد ولـرې، لکـه فـواد چودهـري چـې مخالفينـو تـه کنځـل کولـو کـې ښـه پخـه تجربـه ولـري!

۲٦. شـهرِ ناپُرسـان دى، کـه دې وګټلـه، نـو کاري ټيـم هـم پکارېـږي، دا يـو څـو خـبرې درسره کلکـې پـه غـوږ کـې ونيسـه!

۲۷. د بېسـواده ملګريـو تقـرر تـه بـه کلکـه پاملرنـه کـوې!

۲۸. خپلـو يارانـو تـه د بچـهٔ سـقاو پـه څېـر فرمـان ورکـوه! (در بسـت خـورد ضابـط مقـرر ګـردد، ولـی جـنرال را لـت و کـوب کـرده ميتوانـد).

۲۹. ځمکـې خـو هسـې هـم غاصبانـو نيولـې، تـه پـه خلکـو هـوا خرڅـوه، پـه سـاه اخيسـتو او اکسـيجن ټيکـس ولګـوه، د ترقـۍ همـدا يـوه لار ده چـې دا ګنګـس ملـت درنـه د ارامـۍ سـاه وانخلـي!

۳۰. کـه د عصمـت قانـع غونـدې چـا پـه رڼـا ورځ دربانـدې کودتـا وکـړه او پـه دفـتر در ننوتـل، دا بـه دې خپـل کار وي!

۳۱. پـه دې لوبـه کـې سر خـوړل هـم شـته، بيـا بـه نـه وايـې چـې ولـې دې نـه وو ويـلي، د خپلـو افغـاني ډاکترانـو پـه څېـر مـې ۳۱ قلمـه نسـخه درتـه وليکلـه! پـه يـو څـو څـو بـه دې درد دوا کـړي، تکـړه شـه فيـس راکـوه او دا بيـت پـه وار وار ځـان سره لولـه:

بـا رفيق نـاموافق دايم در صحبت مــه باش
اب را ديدی کی ماهی را در جال انداخت و رفت

## په کاروبار کې د ګټې وټې رول

**عبدالرحمن حنيف**

د کاروبـار يـوه اسـاسي موخـه ګټـه وټـه ده چـې پـه انګليـسي ژبـه کـې يـې (Profit) بـولي، دا چـې ګټه‌وټـه پـه کاروبـار کـې څـه رول لـري؟ دلتـه يـې يـو څـو بېلګـې وړانـدې کـوو:

**۱. د عايـد سرچينـه ده:** کلـه چـې د خلکـو د غوښـتنې پـر بنسـټ يـو څـه توليـد شي، جـوړ شي، بيـا تبادلـه او راکـړه ورکـړه صـورت ونيـسي او تـر خلکـو ورسـېږي، ښـکاره ده چـې ګټـه بـه پکـې تـر لاسـه کېـږي، چـې همـدا ګټـه زمـوږ د کاروبـار د عايـد يـوه سرچينـه ده.

**۲. د کاروبـار د مختـه وړلـو وسـيله ده:** کـه چېرتـه کاروبـار کـې تـاوان وکـړو، بيـا نشـو کولـى د ډېـر وخـت لپـاره کاروبـار مـخ تـه يوسـو، نـو ددې لپـاره چـې کاروبـار مـخ تـه يوسـو نـو ګټـې کولـو تـه اړتيـا ده.

**۳. د کاروبـار د پراختيـا وسـيله ده:** کاروبـار پـه يـوه ځـاى کـې نـه پاتـې کېـږي، کـه ګټـه وکـړي مـخ تـه ځـي او پراختيـا مومـي او کـه تـاوان وکـړي معلومـه خـبره ده چـې نـه د ډېـر وخـت لپـاره مـخ تـه تللـى شي او نـه هـم پراختيـا مونـدلى شي.

**٤. د تـاوان جبرانوونکـې ده:** ځينـې وخـت لـه طبيعـي پېښـو او ناسـم مديريـت کـې د بدلـون او ځينـې نـورو سـتونزو لـه املـه لـه تـاوان سره مـخ کېـږو، ګټـه مـو تـاوان جبرانولـى شي.

**۵. د اقتصـادي پياوړتيـا وسـيله ده:** د کاروبـار ګټه‌وټـه د هېـواد پـه اقتصـاد هـم خپـل اغېـز لـري، د ګټـې وټـې پـه وسـيله د هېـواد اقتصـاد پيـاوړى کېـږي، ځکـه کـه ګټـه وکـړي حکومـت تـه ماليـه تـرې ورځـي او د نظـام پـه ټينګښـت کـې ونـډه اخـلي او کـه تـاوان وشي، بيـا کاروبـار مـخ تـه نـه ځـي، بالاخـره کاروبـار لـه منځـه ځـي او اقتصـاد لـه بحـران سره مـخ کېـږي...